# د کار نړیوال سازمان کړندود

# د ایډز HIV/AIDS

# او د کار نړۍ په هکله

د کار نړیوال دفتر
ژنیوا

ISBN 978-92-2-820286-1

چاپولو حق یواځې د کار نړیوال سازمان ته خوندي دی.
لومړی چاپ ۱۳۸۶ هجری لمریز کال ۲۰۰۷ زیږدیز کال

د کار نړیوال سازمان دفتر نشریات د نړیوال چاپولو حق د کنوانسیون د دویمF پروتوکول سره سم د چاپولو له حق څخه برخمن دی. سره له دی، ددی نشریې د مطالبو څخه اقتباس د اصلي ماخذ په ذکر سره له اجازې پرته هم ترسره کېدای شي. د بیا چاپولو او ژباړلو لپاره باید غوښتنلیکونه د کار نړیوال سازمان د نشراتو دفتر ته واستول شي (CH1211 جنیوا 22، سویس)، د کار نړیوال سازمان دي ډول غوښتنلیکونو درناوی کوی او په ورین تندی یی منی.

هغه کتابتونونه، تولنې او نور کاروونکې چې په انګلستان کې راجستر شوی دی، په لاندې ډول دی:

90 Tottenham Court Road, London W1T 4LP [Fax: (+44) (0)20 7631 5500; email: cla@cla.co.uk],

په متحده ایالاتو کې د چاپولو د حق مراکز:

222 Rosewood Drive, Danvers, MA 01923 [Fax: (+1) (978) 750 4470; email: info@copyright.com]

او په نورو هیوادونو کې د چاپولو د حق له اړونده سازمانونو سره له سلا مشورې وروسته کېدای شي دا نشریه کاپی شي.

ISBN 978-92-2-820286-1

دا کړندود په عربی، انګلیسی، فرانسوی، هسپانوی، المانی او د نړی په نورو ژبو هم د لاس رسی وړ دی.

د کار نړیوال سازمان په نشریاتو کې کارول شوی موضوع ګانې او په هغوی کې نغښتی مطالب، هیڅکله هم د یو هیواد ، سیمی یا قلمرو د قانونی دریخ په هکله د کار نړیوال سازمان عقاید نه څرګندوی.
په مطالبو ، څېړنو او نورو لیکنو کې د ذکر شوی نظریاتو مسئولیت یواځې او یواځې د هغوی لیکوالانو ته متوجه دی، او ددی مطالبو خپرونه د کار نړیوال سازمان د دفتر تائید نه بلل کېږي.
د شرکتونو او تجارتی محصولاتو نوم اخیستنه په دی معنی نه ګڼل کېږي چې ګواکې دوی د کار نړیوال سازمان له خوا د تائید او تصدیق وړ ګرځیدلی، او همدارنګ د کوم شرکت یا تجارتی محصولاتو د نوم نه اخیستلو وجه د هغوی سره مخالفت نه بلل کېږي.
د کار نړیوال سازمان نشریات کېدای شی د غټو کتاب پلورنځیو یا د کار نړیوال سازمان د ځایی دفاترو څخه تر لاسه شی او یا نیغ په نیغه یی د کار نړیوال سازمان د نشریاتو له دفتر څخه تر لاسه کړئ(CH1211 جنیوا 22، سویس)، تاسو کولای شی زمونږ د نویو نشریاتو بشپړ لیست له پورتنی آدرس څخه تر لاسه کړئ او یا یی ددی بریښنا لیک له لاری غوښتنه وکړئ: pubvente@ilo.org
د زیاتو معلوماتو لپاره د کار نړیوال سازمان ویب پاڼی ته مراجعه وکړئ: www.ilo.org/publns

چاپ شوی په کابل ، افغانستان کې –کال ۱۳۸۶ هجری لمریز کال.

## سریزه

اوس مهال د ایډز اپیډیمي یو داسې نړیوال ناورین دی چې د ټولنیز پرمختګ او ودې پر وړاندې تر ټولو ستر او ویروونکې ننګونه بلل کېږي. په هغه هیوادونو کې چې تر ټولو ډېر زیانمن شوي؛ د دې ناروغۍ اپیډیمي د لسګونو کالو ګټې زیانمنې کړي، اقتصاد یې کمزوره کړئ او همدارنګه په ټولنه کې د امنیت د تهدید او ناثباتۍ لامل ګرځېدلې دی. په نیمه صحرایي افریقا کې د مخه د ایډز اپیډیمي زړه بوګنوونکي اثرات درلودل ولې اوس په دې سیمه کې دې ناورین یو بېړني حالت رامنځ ته کړئ چې د ګړندیو مرستو اړین دی.

برسېره پر هغه کړاونو چې ایډز یې پر خلکو او د هغوی پر کورنیو اچوي؛ د ایډز اپیډیمي د ټولنو اجتماعي او اقتصادي جوړښت هم په ژوره توګه تر اغیزې لاندې راولي. ایډز یا ایچ آی وي د کار نړۍ ته یو ستر ګواښ بلل کېږي؛ ځکه چې دا ناروغي نه یوازې د کارځواک تر ټولو محصولاتي برخې ته زیان رسوي؛ بلکه عایدات هم تر ډېره حده کموي. او په پایله کې دا کار د تصدیو ټولو سکتورونو لپاره له څو اړخه خورا ګران پرېوځي، نو ځکه د کار محصول را ټیټ کېږي، د کار بیه لوړېږي او ماهر او تجربه لرونکي کارګران له منځه ځي. برسېره پر دې ایډز د کارکولو بنسټیز حقوق تر پښو لاندې کوي؛ دا حالت په ځانګړې توګه هغه کارګرو او وګړو ته متوجه ده چې په ایډز اخته دي، ایډز د دې لامل ګرځي ترڅو ځیني خلک دوی ته په سپکه او د تبعیض په سترګه وګوري. د دې ناروغۍ اپیډیمي او ناوړه اغیزې پر زیان منونکو وګړو لکه ښځې او ماشومانو باندې خورا ګران اثر اچوي، چې په دې توګه موجوده جنسي نا مساوات ډېروي او د ماشومانو د کارکولو ستونزه لا پسې زیاتوي.

دې ټولو لاملونو د کار نړیوال سازمان دې ته اړ کړ چې د دې کړندود له لارې خپلې څرګندونې او لارښوونې د ایډز او د کار د نړۍ په هکله خپرې کړي. دا کړندود به د ایډز د اپیډیمي له خپرېدلو څخه مخنیوی وکړي، او په کارګرو او د هغوی پر کورنیو د ایډز د اغیزو په کمولو کې خورا مرستندوی وي او همدار راز د ناورغۍ سره د مبارزې کولو لپاره ټولنیزه ساتنې ته لار هواروي. او بېلابېل کلیدي اصول تر پوښښ لاندې راولي؛ لکه د کارځای د یوې لانجې په توګه د ایډز پېژندنه، په استخدام کې تبعیض نه کول، د جنس برابري، محرمیت او راز ساتنه، ټولنیزې خبرې اترې، مخنیوی- ساتنه او ملاتړ.

دا کړندود د کار نړیوال سازمان او د هغه د درې ګونې اجزاو د ګډې همکارۍ یو محصول دی چې د نړیوالو ملګرو په مټ چمتو شوی دی. دا کړندود د کړنلاره جوړونکو، کارګمارونکو او کارګرو د ټولنو او نورو ټولنیز ملګرو لپاره یو ارزښتناک عملي لارښوود برابروي ترڅو دوی وتوانېږي د کارځای لپاره مناسبه کړنلاره طرح او پلې کړي، او د ایډز د مخنیوي او ساتنې لپاره کارنده پروګرامونه جوړ کړي، او همدارنګ داسې ستراتیژئ (کړنلارې) جوړې کړي چې په خصوصي سکتور کې هم کارګرو ته لارښوونه وکړي. له دې کبله دا کار د ایډز په وړاندې مبارزې که د کار نړیوال سازمان یو خورا مهمه مرسته ګڼل کیږي.

دا کړندود به د بشردوستي او پرمختګ په مخ کې د خنډونو ناورین سره سره، د غوره کار لپاره د شرایطو په جوړلو کې مرسته او همکاري وکړي. په دې اړوند خورا ګټور درسونه د مخه ښودل شوي دي ترڅو له دې ناورین سره مبارزه کې مرسته وکړي. ډېر لږ شمیر هیوادونو ددې انتان د خپریدلو په مخنیوي کې بریالي شوي او ښایسته لاس ته راوړنې یې هم ترلاسه کړي او په خلکو او د هغوی پر ټولنو د ایډز ناوړه اغیزې یې هم تر ډېره حده کمې کړې دي. تر ټولو غوره لاس ته راوړنې چې تراوسه ترسره شوي دي، لاندې موارد په لمن کې لري؛ رهبري، څو سکتوریزه طریقې، په مدني ټولنو کې ګډون، هغه کسان چې په ایډز اخته وګړو سره ژوند کوي، او ښوونه او روزنه، دا عناصر د دې کړندود په کلیدي اصولو کې منعکس شوي دي.

دا کړندود یو لومړنی او مخکښ سند دی چې اوسنۍ ستونزې په ګوته کوي او د هغو راتلونکي نتایج او د کار پر نړۍ باندې یې د اغیزو وړاند وینه کوي. ددې کړندود له لارې به د کار نړیوال سازمان د ملي او بین المللي تعهداتو کچه داسې لوړه کړي چې د ټولو کارګرو او هغه کسانو حقوق او حیثیت وساتل شي کوم چې په ایډز اخته دي.

د ۲۰۰۱ کال د جون میاشت، ژنیوا

ژان سوماویا
عمومي رییس

د کار نړیوال سازمان کړندود د HIV/AIDS او د کار نړی په هکله د کتاب پښتو ژباړه د امریکا د متحده ایالاتو د کار د وزارت لخوا د ILO/USDOL، په افغانستان کې د کارځای HIV/AIDS نړیوال پروګرام په چوکاټ کې تمویل شوې ده.

١. موخه:

٢. ګټه اخيستنه او استعمال:

٣. د دې کړندود حدود او اصطلاحات
١،٣- حدود
٢،٣- کړندود کې کارول شوی اصطلاحات

۴- کليدی اصول
۱-۴ د کارځای د ستونزی په توګه د ايډز پيژندنه
۲،۴- عدم تبعيض
۳،۴- د جندر تساوی
۴،۴- روغتيايی کاری چاپيريال
۵،۴- ټولنيزې خبرې اترې
۶،۴- د ايډز آزموينه د کار څخه د بهر ويستلو لپاره
۷،۴- محرميت
۸،۴- د استخدام د اړيکو تداوم
۹،۴- مخنيوی يا وقايه
۱۰،۴- پاملرنه او ملاتړ

۵- عمومی حقوق او مسئوليتونه
۱،۵- حکومتونه او د هغوی صلاحيت لرونکی چارواکې
۲،۵- کارګمارونکې او دهغوی ټولنې
۳،۵- کارګر او دهغوی ټولنې

۶- معلوماتو او زده کړې له لاری مخنيوی
۱،۶ – د معلوماتو او خبرتيا لوړولو کمپاينونه
۲،۶ – تعليمی پروګرامونه
۳،۶ - د جندر ځانګړې پروګرامونه
۴،۶ - د روغتيا پرمختيايي پروګرامونو سره اړيکه
۵،۶ - هغه عملي ګامونه چې له سلوکي تغيراتو څخه ملاتړ کوي
۶،۶ - ټولنيز لاس رسي پروګرامونه

۷- روزنه
۱،۷ - د ريسانو ، مديرانو او د کدر او پرسونل امرينو روزنه
۲،۷ - د همکارو ښونکو روزنه:
۳،۷ - د کارګرو د استازو روزنه
۷،۴ - د روغتيا او خونديتوب مامورينوروزنه
۵،۷ – د کار او فابريکو څارونکو(مفتيشينو ) روزنه
۶،۷ - د هغه کارګرو لپاره روزنه چې د انسان د وينې او يا د وجود نورو مايعاتو سره په تماس کې وی
۸ - معاينه

۱،۸ - په استخدام او کارګمارلو کې مخنیوی
۲،۸ - د بیمې د مقاصدو لپاره مخنیوی
۳،۸ - اپیدمولوژیک نظارت
۴،۸ - داو طلبانه معاینه یا آزموینه

۵،۸ - د مسلکي مواجه کېدو څخه وروسته آزموینه او درملنه
۹ - پاملرنه او ملاتړ
۱،۹ - د نورو جدي ناروغیو سره ورته والی
۲،۹ – سلا (مشوره کول)
۳،۹ - مسلکې او نور روغتیایي خدمتونه
۴،۹ - د ځاني مرستو او ټولنیز ګروپونو سره اړیکې
۵،۹ - ګټې او امتیازات
۶،۹ - د ټولنیز امنیت پوښښ
۷،۹ - محرمیت او راز ساتنه
۸،۹ – د کارګرو او کورنیو د مرستو پروګرامونه

ضمایم

لومړۍ ضمیمه: د ایډز د ساری ناروغۍ په هکله بنسټیز حقیقتونه او مفاهیم
دویمه ضمیمه: په کارځای کې د اخته کیدنې کنټرول
دریمه ضمیمه: د کارځای کړنلارې د پلان او پلی کولو پوښتنلست
څلورمه ضمیمه: د کار نړیوال سازمان اسناد
پنځمه ضمیمه: د ایډز په اړه نړیوال او ملی لارښونې
شپږمه ضمیمه: سکتوری قوانین، لارښونې او معلومات
اومه ضمیمه: غوره شوی تعلیمی، روزنیز توکی او نور معلومات

## ۱. موخه:

د دې کړندود موخه د کار په نړۍ کې د ایډز د اپیډیمۍ په اړه د لارښونو ټولګه تیارول دي تر څو وکولای شو د غوره کار د پراختیا په چوکاټ کې د کار په نړۍ کې د ایډز اپیډیمي په ګوته کړو، دا لارښوونې لاندې کلیدي برخې تر پوښښ لاندې راولي:

الف) د ایډز مخنیوی
ب) د کار په نړۍ باندې د ایډز د اغیزو اداره او دهغوی کمول
ج) په ایډز باندې د منتن او اخته کارګرو پاملرنه او ملاتړ
د) د ایډز د ربښتینې یا فرضي حالت پر بنسټ د نومبدې او تبعیض له منځه وړل

## ۲. ګټه اخیستنه او استعمال:

دا کړندود باید د لاندې موخو لپاره وکارول شي:
الف) په تصدی، ټولنې، سیمه ییز، سکتوری، ملی او بین المللی کچه ځانګړې او مشخص غبرګون ته پراختیا ورکول.

ب) حکومتونو، ګمارونکو، کارګرو او دهغوی استازو، د مسلکې روغتیا او خوندیتوب مامورین، د ایډز د مسایلو کارپوهان او اړونده ونډه لرونکی (مراجع) د (ټولنیز او غیر دولتي موسساتو په ګډون) تر مینځ د خبرو اترو، سلامشورو او مباحثو لړۍ ته پراختیا ورکول.

ج) د ټولنیزو شریکانو سره په سلا، د ایچ آی وی ایډز محتویاتو ته اغیز ورکول:
- په ملي قوانینو، کړنلارو او کاري پروګرامونو کې؛
- د کارځای او تصدی تر مینځ په هوکړو کې؛ او
- د کارځای په کړنلارو او کاري پلانونو کې.

## ۳. د دې کړندود حدود او اصطلاحات

### ۱،۳- حدود

دا کړندود په لاندې حدودو کې د تطبیق وړ دی:

الف) په عامه او خصوصي سکتورونو کې ټول شامل ګمارونکې او کارګران
(د کار غوښتونکو په ګډون)
ب) د کار په ټولو رسمي او غیر رسمي اړخونو کې.

### ۲،۳- کړندود کې کارول شوی اصطلاحات

ایچ آی وی: د انسانانو د معافیت د عدم کفایي ویروس؛ هغه ویروس چې د انسانانو معافیت یا دفاعي سیستم کمزوریږ کوی او په پایله کې د ایډز لامل ګرځي.

اغیزمن کسان: هغه کسان چې د ایډز یا ایچ آی وی اپیډیمي د دوی پر ژوند باندې اغیزه اچولې او په ژوند کې یې بدلون راوستی.

ایډز: د معافیت د عدم کفایي کسبي سندروم، د طبي حالاتو یو مجموعه ده چې اکثراً پکښې فرصت غوښتونکې انتانات مداخله کوی، او تر نن ورځ پوري ورته کوم دارو درمل ندی پیدا شوی.

تبعیض: د تبعیض اصطلاح په دې کړندود کښې د استخدام او مسلک د تبعیض کنوانسیون، 1958، (ګڼه-111) د تعریف سره سم کارول شوې ده؛ دا اصطلاح د تبعیض هغه اړخ ته هم ویل کیږي چې بنسټ یې د یو کارګر فرضي په ایچ آی وی اخته شوی وضعیت وی، همدا راز د جنسي دریځ په وړاندې توپیر هم یو تبعیض بلل کیږي.

معیوب کسان: د معیوب اصطلاح په دې کړندود کښې د مسلکې بیارغاونه او استخدام (د معیوبینو) د کنوانسیون، 1993 (ګڼه-159)، د تعریف سره سم کارول شوې ده؛ یعنې هغه کسان چې ددوی د کار لاس ته راوړنه، ساتنه او په کار کې د پرمختګ قابلیت په بنیادي توګه د پیژندل شوی فزیکي یا دماغي صدمي له کبله له لاسه ورکړي وی؛ معیوب بلل کیږي.

کار ګمارونکی: هغه کس یا ټولنه چې کارګران د لیکني یا شفاهي قرارداد له مخې په کار ګماري او د ملي قوانینو او کړنو سره سم، د دواړه اړخونو حقوق او دندې ځرګندوي. حکومت، عامه چاروا کې، خصوصي تصدۍ او عادي وګړي کېدای شي کارګمارونکې وي.

مسلکي روغتیایي خدمات: دا اصطلاح په دې کړندود کښې د مسلکي روغتیا د خدماتو د کنوانسیون، 1985، (ګڼه-161) د تعریف سره سم کارول شوې ده؛ یعنی هغه روغتیایي خدمات چې اساساً وقایوي دندې لري او هغه خدمات چې کارګمارونکو، کارګرو او د هغوی د استازو لپاره د یو خوندي او روغتیایي کاري چاپیریال او د کار د میتودونو په هکله روغتیایي لارښوونې او سلا مشورې ورکوي ترڅو په کار کې د یو ښه او مناسب فزیکي او دماغي روغتیا لپاره لاره هواره شي. مسلکي روغتیایي خدمات د کارګرو د فزیکي او دماغي روغتیا په رڼاکې د کار او توانمندۍ د توافق په اړه هم سلا مشورې ورکوي.

مناسبه استوګنه: په یوې دندې یا کارځای کې هر ډول بدلون یا تغیر چې په منطقي ډول د عمل وړ وي؛ او پر ایډز اخته کس په دې وتوانوي چې ځان ته کار پیدا کړي، په کار کې ګډون وکړي او یا په خپل کار کې پرمختګ وکړي.

آزموینه: مستقیم اقدامات (د ایچ آی وي ټیسټ) او غیر مستقیم اقدامات (د خطرناکه کړو وړو ارزونه) او یا د پخوانیو ټستونو او اخیستل شوی دوا ګانو په هکله پوښتنې.

جنس او جندر: د سړیو او ښځو تر منځ هم بیولوژیکې او هم ټولنیز توپیرونه شته دی؛ د "جنس" اصطلاح ځانګړو بیولوژیکې توپیرونه ته ویل کېږي، او د "جندر" اصطلاح په ټولنیزو رولونو او د سړیو او ښځو تر منځ د اړیکو توپیرونو ته ویل کېږي. د جندر رولونه د ټولنې څخه زده کېږي او د کلتورونو تر منځ په پراخه کچه توپیر لري. د جندر رولونه د سن، قوم، توکم، نژاد او مذهب، او د جغرافیایوي، اقتصادي او سیاسي چاپیریال تر اغیزو لاندې راځي.

د جنسي اړیکو له لارې انتقالیدونکي انتانات: سفلیس، شانکروئید، کلامایدیا اوسوزاک هغه حالات دي چې په معموله توګه د " جنسي اړیکو له لارې انتقالیدونکي انتانات" بلل کېږي.

د کار څخه ویستل: دا اصطلاح د کار د ختمولو د کنوانسیون، 1982، (ګڼه-158) د تعریف سره سم کارول شوی ده؛ یعنی د کارګمارونکی د پریکړې له مخې د کار څخه ویستل دي.

عمومي پاملرنې: د انتاناتو د کنټرول لپاره هغه ساده معیارات دي چې د وینې څخه د زیږول شویو ناروغیو خطرات کموي (د بشپړ تشریحاتو لپاره دوهمه ضمیمه وګورئ).

کارګران په غیر رسمي فعالیتونو کې: چې د غیررسمي سکتور په نوم هم یادیږي دا اصطلاح په لومړۍ ضمیمه کې بیان شوې ده.

د کارګرو استازې: د کارګرو د استازو د کنوانسیون، 1971 (ګڼه- 135) سره سم هغه کسان دي چې د ملي قوانینو او کړنو مطابق استازې پیژندل شوي دي، که دوی:

الف- د صنفي اتحادیو استازې، یعنی هغه استازې چې د کارګرو د اتحادیو یا د هغوی د غړو له خوا تعین او ټاکل شوي وي؛ او یا

ب- ټاکل شوي استازې؛ یعنی هغه استازې چې په آزادانه توګه د کارګرو له خوا د ملي قوانینو یا مقرراتو، او یا د ډله ایزو هوکړو له لارې ټاکل شوي وي. ددې استازو دندې هغه فعالیتونه په غیبر کې نـلري کوم چې په اړونده هیواد کې کارګرو د اتحادیو د انحصاري امتیازاتو په نامه پیژندل شوي دي.

زیان منښه: دا اصطلاح لاندې مواردو ته راجع کیږي چه د ټولنیز-اقتصادي قدرت نشتوالي، کلتوري زمینو، هغه کاري ځایونه چې کارګران نور هم د انتاناتو سره مخ کوي او هغه حالات چې ماشومان نور هم په کار کولو(د ماشومانو کار) کې بوخت کوي (د بشپړ تشریحاتو لپاره لومړۍ ضمیمه وګورئ)

## ۴- کلیدي اصول

### ۱-۴ د کارځای د ستونزې په توګه د ایډز پیژندنه

ایډز د کارځای یوه ستونزه ده، له دی کبله دا ستونزه هم باید په کارځای کې د نورو جدی ناروغیو یا حالاتو په څیر تر درملنی لاندې ونیول شی. دا کار یوائی له دی اړخه مهم نه بلل کېږی چی ایډز پر کارځواک اغیزه اچوي؛ بلکه له دی کبله هم مهم دی چی پر کارځای هم اغیزه اچوی. د ټولنې د یو غړي په توګه دا زمونږ دنده ده تر څو د ایډز د خپریدو او اپیدیمی. څخه مخنیوی وکړو او یا د وس تر بریده یی ناوړه اغیزو کې کمښت راولو.

### ۲،۴ - عدم تبعیض

د غوره کار، بشری حقونو د درښت او په ایډز منتن او اخته او له ایډز څخه اغیزمنو کسانو د حرمت په پام کې نیولو سره، د کارګرو په وړاندی د ایچ ای وی ایډز اړوند هیڅ ډول تبعیض باید ترسره نشی. د ایډز د مصابینو په وړاندی تبعیض او پر دوی باندی تور لګونه د ایډز د مخنیوی په پروګرامونو کې خنډ رامنځ ته کوی.

### ۳،۴ - د جندر تساوی

د ایچ آی وی یا ایډز د جندر ابعاد باید په غور سره وپیژندل شی او منظم شی. د بیولوژیکې، ټولنیز- کلتوری او اقتصادی له کبله د ایډز اپیدیمی ښځې نسبت نارینه وو ته ډیر تر اغیزې لاندې راولی. په یوه ټولنه کې هرڅومره چی د جندر په وړاندی تبعیض ډیر او د ښځو مقام ټیټ وی؛ هغومره د ایډز منفی او ناوړه اغیزې ډیری وی. نو له دی کبله، د جندر مساوات او د ښځو واک او ځواک د ایډز د انتان د غوړیدلو او خپریدلو څخه په بریالی. مخنیوی کې حیاتی رول ادا کوی او ښځو سره مرسته کوی تر څو له ایډز سره مبارزه وکړی.

### ۴،۴ - روغتیایی کاری چاپیریال

کاری چاپیریال باید له روغتیایی اړخه د شونتیا تر حده د ټولو ښکېلو کسانو لپاره روغتیایی او خوندی وی، تر څو د ایډز د خپریدلو څخه د مسلکې روغتیا او خوبتوب د کنوانسیون، ۱۹۸۱ (ګنه-۱۵۵) د احکامو مطابق مخنیوی وشی.
یو روغتیایی کاری چاپیریال مناسبی فزیکې او دماغی روغتیا ته لاره هواروی، له دی کبله ویلای شو چی یو روغتیایی کاری چاپیریال د کارګرو، کار او د کار سره د سمون په اړه فزیکې او دماغی روغتیا لپاره آسانتیاوی رامنځ ته کوی.

### ۵،۴ - ټولنیزې خبرې اترې

د ایډز د کړنلاره او پروګرامونو د کامیابه ترسره کولو لپاره د ګمارونکو، کارګرو او دهغوی د استاوزو او دولت ترمنځ متقابلو مرستو او اعتماد ته اړتیا لیدل کېږی. او که چیری شونتیا ولری په ایډز باندی منتن او اخته کسان هم کولای شی په فعالانه توګه ګډون وکړی.

### ۶،۴ - د ایډز آزموینه د کار څخه د بهر ویستلو لپاره:

د ایچ آی وی معاینه کول د هغو کسانو لپاره چی د دندو غوښتنه کوی او یا هم ترمخه ګمارل شوی دی، اړینه نه ده.

### ۷،۴ - محرمیت

هیڅوک دا حق نلری چی د دندو د غوښتونکو یا کارګرو څخه غوښتنه وکړی تر څو د ایډز په اړه خپل شخصی معلومات بیان کړی، همدا راز باید هیڅکله د کارګرو همکاران دی ته مجبور نشی چی د خپل ملګری په باره کې دا ډول شخصی معلومات بیان کړی. د کارګرو د ایچ آی وی د وضعیت په اړه معلوماتو ته لاس رسی یوائی او یوائی د محرمیت هغو قوانینو ته هوډمن وی کوم چی د کار نړیوال سازمان د کارګرو د شخصی معلوماتو د کړندود (۱۹۹۷) سره موافقت ولری.

### ۸،۴ - د استخدام د اړیکو تداوم

د ایچ آی وی انتان د کار څخه د شړلو لامل کېدلای نشي، له دې کبله د نورو ورته حالاتو په شان د ایچ آی وی اړوند ناروغان هم باید خپل موجود کار ته تر هغه وخته ادامه ورکړي؛ ترڅو پورې چې دوی له طبي اړخه د کار کولو لپاره روغ او مناسب وي.

## ۴،۹- مخنیوی یا وقایه

د ایچ آی وی انتان د مخنیوي وړ دی، د ایډز د خپریدلو د ټولو لاملونو مخنیوی د ډول ډول کړنلارو په پام کې نیولو سره ممکن دی؛ هغه کړنلارې چې په مناسبه توګه ملي حالاتو ته متوجه وي او له دودیزه اړخه حساسې وي.

د ایډز له ناروغۍ څخه د عاداتو ، پوهې، درملنې او د یو غیر تبعیضي چاپیریال په رامنځ ته کولو سره هم کولای شو مخنیوی وکړو.

ټولنیز شریکان د ایډز ناروغۍ په مخنیوي کې بې سارې ځای لري، په ځانګړې توګه د رفتار او کړو وړو په بدلون سره چې دا وروستی کار د معلوماتو او تعلیماتو د برابرولو او د ټولنیز او اقتصادي فکتورونو په ګوته کولو سره تر لاسه کېدای شي.

## ۴-۱۰- پاملرنه او ملاتړ

پیوستون، پاملرنه او ملاتړ باید د ایډز په وړاندې غبرګون ته د کار په نړۍ کې لارښوونه وکړي،ځکه چې ټول کارګران او په ایډز اخته کسان د مناسبو روغتیایي خدماتو مستحق دي. له دې کبله ددوی او ددوی د متعلقینو په وړاندې باید هیڅ ډول تبعیض ونشي او دوی کولای شي ټولنیز امنیت پروګرامونو او د مسلکي پلانونو څخه برخمن دي او ځنې ګټه اخیستلای شي.

## ۵- عمومي حقوق او مسئولیتونه

### ۱،۵- حکومتونه او د هغوی صلاحیت لرونکي چارواکي

(الف)- تړاو: دولتونو او دهغوی صلاحیت لرونکي چارواکو ته اړینه ده ترڅو د ایچ آی وی د ملي ستراتیژۍ او پروګرامونو ترمنځ اړیکې ټینګې کړي؛ ترڅو په ملي پلانونو کې د کار د نړۍ د ګډون اهمیت وپیژندل شي؛ د بیلګې په توګه دولت باید ډاډ ترلاسه کړي چې د ایډز د ملي ټولنې په جوړښت کې کارګمارونکې، کارګران، په ایډز اخته کسانو او د اړوند کار او ټولنیزو چارو کې مسولو وزارتونو استازي شامل دي.

(ب)- ګڼ سکتوریزه ګډون: صلاحیت لرونکي چارواکي باید د ایډز د مخنیوي او ساتنې لپاره هراړخیزه ګډون وکړي. د عامه اجنسیو ، خصوصي سکتور ، د کارګرو او کارګمارونکو ټولنې او ټول اړونده ونډه لرونکي (مراجع) باید په دې برخه کې ګډون وکړي ترڅو د کار په نړۍ کې تر ټولو لوړ شمیر شریکان ګډون ولري.

(ج)- انسجام: حکومتونه باید په ملي کچه له ټول فعالیتونه او اړونده مداخلو ته اسانتیا و ببني او همدا راز منسجمې یې کړي، ترڅو د کارنړۍ د مداخلو او فعالیتونو لپاره یو حاکم محیط برابر شي او د ټولنیزو شریکانو او اړونده ونډه لرونکي (مراجع)و شتون ته ارزښت ورکول شي. انسجام باید پر هغه معیاراتو او حمایوي خدماتو پر بنسټ وي کوم چې دمخه موجود دي.

(د)- مخنیوی (وقایه) او د روغتیا ښه والی: صلاحیت لرونکي چارواکي باید د نورو ټولنیزو شریکانو سره یوځای هلې ځلې وکړي ترڅو د خلکو د خبرتیا کچه او په ځانګړې توګه په کارځای کې د مخنیوي د پروګرامونو کچه لوړه کړي.

(هـ)- کلینیکي لارښووني: په هغه هیوادونو کې چې کارګمارونکي د کارګرو د روغتیا پالنې د خدماتو نیغ په نیغ مسئولیت پر غاړه لري؛ نو د دولتونو لپاره اړینه ده چې د کارګمارونکو سره مرسته او داسې لارښوونه وکړي تر څو دوی پوه شي چې څرنګه د ایچ آی وی څخه ساتنه وشي او کوم اهتمامات دي ورته ونیول شي، البته دا خدمات باید او سنی موجوده مرستې هم په پام کې ونیسي.

(و ) ټولنیز تامینات: حکومتونه باید ډاډ تر لاسه کړي چې په ایډز اخته کارګران د ملي قوانینو او مقرراتو سره سم له ګټو او امتیازاتو څخه په هماغه کچه برخمن دي په کومه اندازه چې د نورو جدي ناروغیو کارګران ورڅخه برخمن دي. د ټولنیز امنیت د پروګرامونو په طرحه او پلي کولو کې؛ حکومتونه باید ددې ناروغۍ پرمختلونکې او متناوب خاصیت په پام کې ونیسي او اړونده طرحې په مناسب ډول سره وځیرل شي، د بیلګې په توګه د اړتیا په لیدلو سره دې کارګرو ته ځانګړې امتیازات ورکول شي او بیړنۍ مرستې دې دوی سره وشي.

(ز) څېړنې: ددې لپاره چې د ایډز ملي پلانونو ترمنځ اړیکې ټینګې شي، ټولنیز شریکان دې راوپارول شي، د ټولنیز امنیت سیستم او د اقتصاد لپاره په کارځای کې د ایډز د اپیدیمۍ زیانونه وارزول شي، او ددې لپاره چې د ایډز ټولنیز-اقتصادي اغیزې لرې شي؛ نو صلاحیت لرونکي چارواکو ته اړینه ده چې د ناورغۍ وقوعات او شیوع څرګند کړي، د ناروغۍ په هکله دې څېړنې تر سره کړي او احصایوي ارقام دې خلکو ته خپاره کړي. حکومتونه باید دې راز څېړنو لپاره بنسټیز چوکاټ جوړ کړي او هراړخیزه مرستې دې ورسره وکړي. دا څېړنې هغه ارزونې هم په لمن کې لري کوم چې د جندر په هکله ترسره شوي؛ ددې ارزونو بنسټ هغه معلومات جوړوي کوم چې د کارګمارونکو او کارګرو د استازو څخه تر لاسه شوي دي. تر کومه ځایه چې شونتیا ولري، معلومات باید د ځانګړي سکتور څخه راټول؛ او پر جنس، توکم، جنسي موقف، سن، استخدام او مسلکي دریځ باندې ویشل شوي وي او له دود او کلتور سره سم تر سره شي.

(ح) مالي سرچینې: حکومتونه باید د ټولنیز شریکانو او نورو ونډه لرونکو (مراجع) سره له سلامشورې وروسته، د ایچ آی وي د مالي لګښتونو اټکل وکړي او د ایډز د ملي ستراتیژیک پلانونو د پرمخ بیولو لپاره دې په ځایي او نړیواله کچه مالي مرستې ولټوي.

(ط) قوانین: ددې لپاره چې کارځای کې تبعیض له منځه یوړل شي او په کارځای کې د ایډز مخنیوي او ساتنې ته وده ورکړل شي؛ نو حکومتونه د خپلو ټولنیز شریکانو او د ایډز د متخصصینو سره له سلامشورې وروسته، باید په دې اړوند انتظامي چوکاټ جوړ کړي او که چیرې اړتیا وي دوی کولای شي چې د کار قوانین او نور مقررات تعدیل کړي.

(ی) د دولتي ملاتړ ورتیا: کله چې دولت د ملي او نړیوالو تصدیو لپاره لومړنۍ مالي مرستې او وجوهات برابروي، نو دوی ته اړینه ده چې د مرستو اخیستونکې دې ته اړ باسي چې ملي قوانینو ته هوډمن پاتې شي او دوی دې وهڅوي ترڅو هغو قوانینو، او کړنلارو یا قوانینو ته دې هم سر کښېږدي کوم چې ددې قوانینو د احکامو سره موافق دي.

(ک) د قانون تحکیم: صلاحیت لرونکي چارواکې باید کارګمارونکو او کارګرو ته د ایچ آی وي په اړوند د قوانینو او مقرراتو سره د توافق کولو او د کار د نړۍ په هکله تخنیکې معلومات او سلامشورې ورکړي. دوی باید د قانون د تحکیم جوړښتونو او کړنلارو ته ځواک ورکړي؛ لکه د فابریکې/کار څېړوکي، او د کار د محاکم.

(ل) کارګران په غیر رسمي فعالیتونو کې (چې د غیر رسمي سکتور په نوم هم یادیږي): حکومتونه باید د ایچ آی وي د مخنیوي او د ټولنیزې ساتنې پروګرامونو هغه کارګرو ته هم وغزوي کوم چې په غیر رسمي فعالیتونو کې ښکېل دي. حکومتونه باید د ځایي خلکو له پوښتلو وروسته نوې لارې چارې طرحه او ورته وده ورکړي.

(م) د اغیزو کمول: حکومتونه باید د عامه روغتیایي پروګرامونو، ټولنیز امنیتي سیستمونو او یا نورو دولتي ابتکاراتو له لارې د ایډز ساتنې او ملاتړ ته وده ورکړي. حکومتونه باید ډاډ تر لاسه کړي چې د ایډز ناروغان دارو درمل ته لاس رسی لري، او چیرې چې مناسب وي دولت دې په دې ډګر کې د کارګمارونکو او کارګرو د ټولنو سره یو ځای کار وکړي.

(ن) ماشومان او تنکي ځوانان: حکومتونه باید د هغه پروګرامونو له لارې چې د ماشومانو د کار د له منځه وړلو لپاره په پام کې نیول شوي دي، ډاډ تر لاسه کړي چې پر ماشومانو د ایډز د اپیدیمۍ اغیزو ته پوره پاملرنه شوې ده؛ په ځانګړې توګه هغه ماشومان او تنکي ځوانان د چا چې یو یا دواړه مور او پلار ناروغ دي او یا د ایډز له کبله مړه شوي دي.

(س) سیمه ییزې او نړیوالې ګډې مرستې: حکومتونه باید ګډو مرستو ته په سیمه ییزه او نړیواله کچه وده ورکړي، او د دولتونو د اجنسیو ترمنځ او ټولو اړونده ونډه لرونکو (مراجع) له لارې دې نړیواله پاملرنه ایډز او د کار نړۍ ته راواړوي.

(ع) نړیوالې مرستې: حکومتونه باید د ملي پروګرامونو څخه د ملاتړ لپاره د نړیوالو مرستو اړتیاوې په ګوته کړي. او له هغه اقداماتو څخه دې ملاتړ وکړي چې د ایډز د ویرس ضد درمل د نرخ د کمولو او د نړیوالو کمپاینونو څخه ملاتړ کوي.

(ف) زیان منونه: حکومتونه باید داسې ګامونه واخلي تر څو د کارګرو هغه ګروپونه وپیژني چې د ایډز د انتان یرغل ته برابر دي، او داسې ستراتیژۍ دې طرحه کړي چې د هغه فکتورونو سره مبارزه وکړي کوم چې کارګر دې انتان په وړاندې مستعد یا حساس کوي. حکومتونه باید همدا راز هڅې وکړي او ډاډ تر لاسه کړي چې د ایډز د مخنیوي مناسب پروګرامونه د کارګرو لپاره چمتو شوي دي.

## ۲،۵- کارګمارونکي او د هغوی ټولنې

(الف) د کارځای کړنلاره: کارګمارونکي باید د کارګرو او د هغوی د استازو سره سلامشوری وکړي ترڅو ددوی د کارځای لپاره مناسبه کړنلاره جوړه او پلې کړي؛ داسې یوه کړنلاره چې د ایډز انتان د خپریدلو څخه مخنیوی وکړي او ټول کارګران د ایډز پورې اړوند تبعیضاتو څخه وساتي. د کارځای د کړنلارې د پلان او پلي کولو لپاره په دریمه ضمیمه کې یو پوښتنلیک ته ځای ورکول شوی دی.

(ب) ملی، سکتوری او د کارځای/ تصدیو هوکړې: کارګمارونکو ته اړینه ده چی د کارګرو او د هغوی د استازو سره د ایډز د موضوع په هکله د استخدام د شرایطو او مقرراتو په اړونده خبرو اترو کې ملی قوانینو او حالاتو ته هوډمن پاتی شی او هڅه وکړی چی د ایډز د ساتنی او مخنیوی په اړوند دی په ملی، سکتوری او کارځای یا تصدیو په توافقاتو کې اړین احکامو ته ځای ورکړی.

(ج) زده کړه او روزنه: کارګمارونکې او دهغوی ټولنې، د کارګرو او دهغوی د استازو سره له سلامشورې وروسته، باید په کارځای کې د داسی پروګرامونو پیل او ملاتړ وکړی چی کارګرو ته د ایډز د مخنیوی، ساتنی اوملاتړ په اړوند او د تصدیو د کړنلارې په هکله معلومات او روزنه ورکړی. دی معلوماتو کې دی هغه اقدامات هم په پام کې ونیول شی چی په ایچ آی وی منتن (په ایډز ککړ) کسانو په وړاندی تبعیضاتو د کمولو لپاره کاریږی.

(د) اقتصادی اغیزه: کارګمارونکې، کارګران او دهغوی ټولنې باید د یوی مناسبی ستراتیژی په جوړلو کې ګډی هلی ځلی وکړی ترڅو د ایډز اقتصادی اغیزې په ځانګړی ډول کارځای او سکتور کې وارزوی او مناسب ځواب ورکړی.

(هـ) د کارکوونکو کړنلاره: کارګمارونکې باید د کارکوونکو داسی کړنلارې ته اجازه ورنګړی چی د ایډز په انتان منتن (په ایډز ککړ) کارګرو په وړاندی تبعیض ته لمن وهی، په ځانګړی توګه:

- کارګمارونکې باید کارګرد ایچ آی وی معاینی یا ټست ته مجبور نکړی؛ مګر په هغه حالاتو کې چی ددی کړندود په اتمه برخه کې بیان شوی وی؛
- کارګمارونکې باید ډاډ ترلاسه کړی چی د ایډز د فرضیې یا ریښتینی وضعیت پر بنسټ، کار بی له کوم تبعیض او تورلګونی څخه ترسره کیږی؛
- کارګمارونکې باید هغه کسان چی په ایډز یا ایډز سره تړلی ناروغیو باندی اخته وی تشویق کړی چی په خپلو دندو کې ترهغه وخته کار وکړی چی له روغتیایی اړخه ددوی کارکول څه ممانعت ونلری؛ او
- کله چی کارګمارونکی د داسی کارګر سره مخ کیږی چی د ایډز نه زیږیدلی کومه ناروغی ولری او حالت یی دومره خراب او وخیم وی چی نور ونشی کولائ کار ته دوام ورکړی، او دی کارګر ته نور د ناروغی رخصتی ورکولو میعاد هم پوره شوی وی؛ نو ددی شخص د خدماتو بهیر د تبعیض ضد او کار د قوانینو او احکامو په رڼا کې ختم کیږی، د یادونی وړ ده چی دا کار د عمومی کړنلارو او بشپړو امتیازاتو په پام کې نیولو سره تر سره کیږی.

(و) شکایت او انظباتی کړنلارې: کارګمارونکې باید داسی کړنلارې ولری چی کارګران او دهغوی استازې وکولائ شی دهغه له لاری خپل د کار پوری اړوند شکایتونه بیان کړی. دا کړنلاري باید څرګنده ګړی چی د کومو شرایطو په صورت کې اړینه ده چی د یو کارکوونکې په وړاندی انظباتی اقدامات واخیستل شی؛ د بیلګې په توګه کله چی یو کارکوونکې د یو کس د ایډز د فرضی یا ریښتینی حالت په وړاندی تبعیض ښکاروی او یا هم په کارځای کې د ایډز له کړنلارې څخه سرغړونه کوی نو دده سره به د انظباتی اقداماتو له مخی چلند کیږی.

(ز) محرمیت او راز ساتنه: د ایچ آی وی پوری د کارګرو اړونده معلومات او سوابق باید په کلکه سره محرم او یوائی په طبی دوسیو کې خوندی وساتل شی؛ دی معلوماتو ته لاس رسی باید د مسلکې روغتیا د خدماتو سپارښتلیک، ۱۹۸۵ (ګڼه- ۱۷۱)، ملی قوانینو او کړنو سره سم ترسره شی. ددی معلوماتو کتل باید یوائی روغتیایی کارکوونکو ته محدود وی، که چیری په غیر قانونی توګه ددی معلوماتو د افشا کولو غوښتنه وشی، نو یوائی د اړوند کس د خوښی او رضایت وروسته دا کار تر سره کیدای شی.

(ح) د خطراتو کمول او تنظیم: کارګمارونکې باید داسی مصئون او روغتیایی کاری چاپیریال برابر کړی چیرته چی عمومی پاملرني او اقدمات؛ لکه محافظتی تجهیزات او لومړنۍ مرستې، پکښی په پوره غور سره په پام کې نیول شوی وی. ددی لپاره چی د خلکو په کړو وړو کې بدلون راوستل شی، کارګمارونکې باید د نارینه وو او ښځینه وو لپاره کانډوم، سلامشورې، ساتنه، ملاتړ او د روغتیایی مراکزو ته د بیا راستنیدلو خدمات برابر کړی. کله چی دا کار د نرخ د ګران والی یا بل هر ستونزی له مخی ستونزمن وی؛ نو کارګمارونکې او یا دهغوی استازې باید له دولت یا اړونده ټولنو او موسساتو څخه مرسته وغواړی.

(ط) د کار هغه ځایونه چی کارګران د انسان د وینی یا د بدن د مایعاتو سره تماس پیدا کوی: په دا ډول کارځایونو کې، کارګمارونکې باید ډاډ ترلاسه کړی چی کارګران د "عمومی پاملرنو " څخه خبرتیا لری، او دوی په دی پوه دی چی د یو مسلکې پیښی د رامنځ ته کیدلو په وخت کې کومی کړنلارې ترسره کړی ترڅو تر څو د کارګرو سره هم مرسته وشی او هم عمومی پاملرنې په پام کې ونیول شی.

(ی) مناسب استوګنځی: کارګمارونکې د کارګرو او دهغوی د استازو سره له سلا مشورې وروسته، باید د ایډز پوری تړلې ناروغ کارګرو د مناسب استوګنی لپاره اړین تدابیر ونیسی. دا تدابیر کیدای شی په لاندې مواردو کې ترسره شی: د کاری وخت بیا ترتیب، ځانګړی تجهیزات، د دمې یا آرام کولو لپاره فرصتونه، د طبی معایناتو لپاره فارغ وخت، د ناروغۍ لپاره رخصتی، د نیمی ورځی کار

او کار ته د بیا راستنیدو آسانتیاوی.

(ک) دفاع او ملاتړ: د یو ښه تبعه په توګه، کارګمارونکې او د هغوی ټولنې باید ملګرې کارګمارونکې تشویق کړی ترڅو په کارځای کې د ایډز په مخنیوی او اداری کې مرسته وکړی او حکومتونه دی تشویق کړی ترڅو د ایډز د خپریدلو د مخنیوی لپاره اړین اقدامات ترسره کړی او د ایډز اغیزې دی تر یوه حده کمې کړی. ځینی نور ګډون کوونکې هم له دی پروسی څخه ملاتړ کولای شی، لکه د ایچ آی وی مشترکه سوداګریزه شورا.

(ل) د ایډز د داوطلبانه سلامشورو او معایناتو څخه ملاتړ: کارګمارونکې، کارګران او دهغوی استازې باید د ایډز د داوطلبانه سلامشورو او معایناتو څخه ملاتړ وکړی او دا معلومات باید په یو مجهز او پرمختللی روغتیایی مرکز کې ترسره شی.

(م) کارګران په غیر رسمی فعالیتونو کې (چی د غیر رسمی سکتور په نوم هم یادیږی): په غیررسمی فعالیتونو کې د ښکیلو کارګرو کارګمارونکې، چیرته چی اړتیا وی، باید د ایډز د مخنیوی او ساتنی پروګرامونو په هکله پلټنی ترسره کړی.

(ن) نړیوال مشارکت: کارګمارونکې او دهغوی ټولنې باید د ایډز سره د مبارزی په ډګر کې نړیوال مشارکت سره مرسته وکړی.

## ۳،۵- کارګر او دهغوی ټولنې

(الف) د کارځای کړنلاره: کارګران او دهغوی استازې باید خپل د کارځای د مناسبی کړنلارې د پلی کولو لپاره اړونده کارګمارونکو سره سلامشورې وکړی، دا کړنلاره باید داسی پلی شی چی د ایډز د انتان د خپریدلو مخنیوی وکړی او ټول کارګران د ایډز پوری اړوند تبعیضاتو څخه وساتی. د کارځای د کړنلارې د پلان او پلی کولو لپاره په دریمه ضمیمه کې یو پوښتنلست ته ځای ورکول شوی دی.

(ب) ملی، سکتوری او د کارځای/ تصدیو هوکړې (توافقات): کارګران او دهغوی استازو ته اړینه ده چی د ایډز د موضوعاتو په هکله د استخدام د شرایطو او مقرراتو په اړوند خبرو اترو کې، ملی قوانینو او حالاتو ته هوډمن پاتی شی او هڅه دی وکړی چی د ایډز د ساتنی او مخنیوی په اړوند ملی، سکتوری او د کارځای یا تصدیو په تړونونو کې اړین احکامو ته ځای ورکړی.

(ج) معلومات او زده کړه: کارګران او دهغوی ټولنې باید د کارګرو د اتحادیی موجوده جوړښتونو او د نورو جوړښتونو په کارولو سره په کارځای کې د ایچ آی وی په هکله معلومات برابر کړی، او د کارګرو او دهغوی د کورنیو لپاره روزنیز مواد او فعالیتونه چمتو کړی. ددی معلوماتو په لړی کې کارګرو ته دهغوی د حقونو او امتیازاتو په باره کې هم رڼا واچول شی.

(د) اقتصادی اغیز: کارګران او دهغوی ټولنې باید د کارګمارونکو سره د یوی مناسبی ستراتیژۍ په جوړلو کې ګډې هلی ځلی وکړی ترڅو د ځانګړی کارځای او سکتور په ډګر کې د ایډز اقتصادی اغیزې وارزوی او مناسب ځواب ورکړی.

(هـ) دفاع او ملاتړ: کارګران او دهغوی ټولنې باید د کارګمارونکو او دهغوی د ټولنو او دولتونو سره کار وکړی ترڅو د ایچ آی وی د مخنیوی او اداری په هکله د عامه پوهاوی کچه لوړه کړی.

(و) د کارکوونکو کړنلاره: کارګران او دهغوی استازې باید کارګمارونکې وهڅوی ترڅو داسی پالیسې او فعالیتونه طرحه او پلی کړی چی د ایډز د کارګرو په وړاندی تبعیض ته لمن و نه وهی.

(ز) د شکایاتو څارنه: د کارګرانو استازې دا حق لری چی د کارځای مسایل د منطقی دلایلو او انظباتی کړنلارو له لاری طرحه کړی، همدا راز دوی کولای شی د ایډز پوری اړوند د هر ډول تبیعضاتو راپور اړونده حقوقی چارواکو ته وروسوی.

(ح) روزنه: د کارګرانو ټولنې باید خپل استازو لپاره داسی روزنیز کورسونه په پام کی ونیسی چی په کارځای کی د ایډز د اپیدیمی نه راپیښ شوی ربړونه، د ایډز په وړاندی مناسب غبرګون، او په ایډز اخته کسانو د اړتیاوو او ژوند په اړوند معلومات پکښی نغښتی وی.

(ی) د خطراتو کمول او اداره: کارګران او دهغوی ټولنې باید کارګمارونکو سره په ګډه کار وکړی ترڅو یو مصئون او صحی کاری چاپیریال رامنځ ته کړی، برسیره پر دی د ساتندویه تجهیزاتو او لومړنیو مرستو د سم کارولو او ساتنی په اړوند دی هم لارښوونی ترسره شی. کارګران او دهغوی ټولنې باید د چاپیریال آسیب منفه وارزوی او په دی اړوند دی د کارګرانو لپاره مناسب پروګرامونه تر لاس لاندی ونیسی.

(ک) راز ساتنه او محرمیت: کارګران خپلو شخصی معلوماتو او طبی اسنادو ته د لاس رسی حق لری. ولی د کارګارانو ټولنې حق نلری هغه اسناد وګوری کوم چی د کارګرانو د ایډز د وضعیت په اړه معلومات لری. له دی کبله، کله چی تجارتی ټولنې خپل مسئولیتونه او دندې ترسره کوی نو د راز داری اصل ته دی په غور سره پاملرنه وکړی، او داسی هیڅ ګام دی پورته نګړی چی د اړوند شخص د خوښی او د مسلکی روغتیا د خدماتو سپارښتلیک، ۱۹۸۵ (ګڼه – ۱۷۱) د احکامو پر خلاف وی.

(ل) کارګارن په غیر رسمی فعالیتونو کی (چی د غیررسمی سکتور په نوم هم یادیږی): کارګران او دهغوی ټولنې باید له اړوند حامیانو سره ګډ خپل فعالیتونه هغو کارګرانو ته هم ورسوی کوم چی په غیررسمی سکتور کی پر کارونو بوخت دی. او داسی اقدامات دی په پام کی ونیسی چی هم د ایډز د خپریدلو څخه مخنیوی وکړی او هم یی اغیزی کمی کړی.

(م) زیان مننه: کارګران او دهغوی ټولنې باید ډاډ ترلاسه کړی چی د کارګمارونکو د سلا مشورو سره سم هغه فکتورونه په ګوته شوی دی چی د کارګرانو ځانګړی ډلی د ایډز د انتان خطر په وړاندی نور هم آسیب مننونکی کوی.

(ن) د ایډز د محرمو دعواطلبانه مشورو او معایناتو څخه ملاتړ: کارګران او دهغوی ټولنې باید کارګمارونکې دی ته وهڅوی چی د کارګرانو لپاره د محرم او دعواطلبانه مشورو او معایناتو لپاره لاره هواره کړی.

(س) نړیوال ګډون (مشارکت): د کارګرانو ټولنې باید د سکتوری، سیمه ییز او نړیوال ګروپونو له لاری داسی یووالی او اتحاد رامنځ ته کړی چی په ایډز او د کار پر نړۍ غور وکړی او دا کار د کارګرانو د حقوقو په کمپاین کی هم ورګډ کړی.

## ۶- معلوماتو او زده کړې له لاری مخنیوی

د اپیدمۍ د مخنیوي او په ایډز اخته کارګرو د تشویق لپاره، د کارځای لارښوني او زده کړې یو ضروری عمل دی. اغیزمنده زده کړې د کارګرو د ظرفیت په لوړولو کې ډېره مرسته کوي ترڅو ځانونه د ایچ آی وی د مصابیت یا ککړتیا څخه وساتي. دا کولی شي چې د ایچ آی وی نه د وېرې په کچې کې د پام وړ کموالی راولي او د کارځای د تجزیې او ماتیدنې کچه را ټیټه کړي، او همدارنګه په سلوک او کړو وړو کې د پام وړ بدلون راولي. د دولت، کار ګمارونکو او کارګرو د مشورو پر بنسټ داسې پروګرامونه باید ترلاس لاندې ونیول شي ترڅو ددې پروګرام او د هغوي د بشپړې برخې اخیستنې څخه په لوړه کچه ملاتړ وشي. معلومات او زده کړې باید په بیلابیلو بڼو کې برابرې شي؛ نه دا چې یواځې په لیکلې توروکتفا وشي. پروګرامونه باید د سن، جنسیت، جنسي دریځ، د ساحې ځانګړتیاوی د کارځواک د خطر فکتورونو او کلتوری اړخونو په پام کې نیولو سره خپلې موخې وټاکي. دا پروګرامونه باید د ډاډ او احترام وړ کسانو لخوا وړاندې شي. همکارې زده کړې کولای شي اغیزمندی وي، ځکه چی په ایډز اخته کسان د پروګرامونو په طرحه او عملي کولو کې یوشان برخه اخلي.

## ۱،۶ –د معلوماتو او خبرتیا لوړولو کمپاینونه

الف) د شونتیا په صورت کې معلوماتي پروګرامونه باید د ایډز د پراخو کمپاینونو سره په سیمه ییزه ټولنو او د هیواد په بیلابیلو سیمو کې، اړیکې ولري. پروګرامونه باید ددې په اړه چې ایډز څرنګه انتقالیږي او څرنګه نه انتقالیږي، د ایچ آی وی بیلابیل اړخونه، څرنګه د ایچ آی وی مخنیوی کېږي، ددې مرض طبي اړخونه، د ایډز اغیزې په خلکو، او د پاملرنې او درملنې د شونتیاوو په اړه د دقیق او تازه معلوماتو درلودونکې وي.

ب) تر هغه شونی (ممکنه) حده پورې چې واقعی وي، معلوماتي پروګرامونه، کورسونه او کمپاینونه باید په موجوده روزنیز او بشري کړنلارو او پروګرامونو کې او همدارنګه د کار د امنیت، صحت او د تبعیض ضد ستراتیژي ګانو (کړنلارو) کې ځای ورکړل شي.

## ۶،۳ –تعلیمی پروګرامونه

الف) تعلیمی ستراتیژګانې باید د کارګمارونکو او کارګرو او د هغوي استازو، د لزوم دید په صورت کې د دولت او نور اړونده د ایډز متخصصینو ترمینځ د مشورې پر بنسټ وي. میتود باید د شونتیا تر حده جالب او د برخې اخیستنې وړ وي.
په کاري وخت کې تعلیمی پروګرامونه باید په پام کې ونیول شي او انکشافي روزنیز مواد باید د کارګرو لخوا د کارځای نه د باندې وکارول شي. که چیرې کورسونه دایریږي، نو حاضري باید د کاری مکلفیت په حیث په پام کې ونیول شي.

ب) عملی او مناسب پروګرامونه باید د لاندې موضوعاتو لرونکې وي:
- د هغه ډول فعالیتونو درلودونکې وي کوم چې انفرادي کسانو سره مرسته کوي ترڅو هغه خطرات چې شخصا دوي سره مخ دي، په انفرادي او هم د یو ګروپ د غړي په توګه و ارزوي. او دا خطرات د تصمیم نیولو، مفاهمو او د اړیکو د مهارتونو او همدارنګه تعلیمی، وقایوي او مشورتي پروګرامونو له لارې، کم کړي.

- په لوړې کچې سلوکي او نور د خطر په فکتورونو باندې په خاصه توګه تاکېد وشي؛ لکه کاري خوځښت چې د کارګرو مختلف ګروپونه د ایچ آی وی انتان ډېر خطر سره مخ کوي.
- د مخدروه موادو د پیچکاری له لارې د ایچ آی وی د انتقالیدو په هکله د معلوماتو ورکول، او معلومات ددې په اړه چې څرنګه ددې ډول انتقال خطرات کم شي.
- د دولت، کارګمارونکو او کارګرو تر مینځ او همدارنګه د ګاونډي هیوادونو د ټولنو او د سیمی په کچه د خبرو اترو رامینځته کېدل.
- په مسلکي روزنیزو پروګرامونو کې د ایډز د خبرتیا لوړول، چې د دولت او نورو ټولنو لخوا پر مخ بیول کېږي.
- د کمپاینونو پر مخ بیول چې په ښځو او ځوان کارګرو باندې متمرکز وي.
- د ښځو د ایچ آی وی څخه په زیان موندنې باندې ځانګړی توجه او د مخنیوي ستراتیژي چې دغه زیان موندنه کم کړي. ( ۶،۳ برخه وګوری )
- تاکېد پر دې باندې چې ایچ آی وی په اتفاقي ډول د تماس څخه نه انتقالېږي، هغه کسان چې ایچ آی وی مثبت دي، تجرید یا له خلکو څخه بیلیدلو ته اړتیا نلري، بلکې هغوي سره باید په کارځای کې مرسته وشي.
- د ویروس د ناتوانونکي اغیزو توضیح کول او د ټولو کارګرو د وړتیاوو په پامنیولو سره، د ایډز ناروغه کارګرو په وړاندې نباید چې تبعیض وکارول شي.
- کارګرو ته ددې فرصت ورکول چې خپل غبرګون او احساسات چې د ایډز له امله ورته پیدا شوي، په ډاګه کړي.
- د عمومي پاملرنې د موضوعاتو په اړه کارګرو ته لارښونه (مخصوصاً روغتیایی کارګران) او د هغوي خبرول کړنلارو څخه چې د مواجه کېدو په صورت کې باید عملي شي.
- د جنسي اړیکو له لاری انتقال شوی ناروغی او توبرکلوز د مخنیوي او منجمنت په اړه روزنه، نه یواځې په ایچ آی وی د ککړ کېدو د خطر لپاره بلکې ددې لپاره چې دا حالات د درملنې وړ دي، او همدارنګه د کارګرو د عمومي حالت او معافیت سیستم د تقویې سبب کېږي.
- د حفظ الصحې او خوراک ښه کول.
- د جنسي اړیکو مصؤنیت، چې د ښځینه او نارینه کانډوم د استعمال لپاره لارښوونې پکې شامل وي.
- همکارې زده کړې او غیر رسمي روزنیز فعالیتونه.
- په منظمه توګه څیړنه، ارزونه او بیا کتنه وشی او د اړتیا په وخت کې اصلاحات پکښی راوستل شی.

## ۳،۶ - د جندر ځانګړی پروګرامونه

الف) ټول پروګرامونه باید هم د جندر او هم د نژاد او جنسي دریځ سره حساس وي. او ښځې او نارینه باید په واضح توګه په پام کې ونیسي چې د ښځو او نارینه وو غوښتنو ته د مختلفو خطرونو په پام کې نیولو سره په جلا پروګرامونو کې ځواب ورکوی.

ب) د ښځو د اړتیا په هکله معلومات ترڅو هغوي د انتان د لوړ خطر او په خاصه توګه د ځوانو ښځو د زیان موندنې په هکله، خبرې شي.

ج) روزنه باید دواړه ښځې او نارینه سره مرسته وکړي ترڅو د خپل غیر مساوي ځواک او توان باندې پوه شی او د هغه پر اساس په کارځای او ځانګړی حالاتو کې عمل وکړي، او ددی ترڅنګ سرغړونو ته باید په مشخصه توګه پاملرنه وکړي.

د) پروګرامونه باید ښځو سره مرسته وکړي ترڅو په کارځای او د کارځای څخه بهر خپلو حقونو باندې خبرې شي او هغوي وتوانیږي چې ځانونه خوندي کړي.

ر) د نارینه وو زده کړی باید د خبرتیا، خطر ارزونې او ستراتیژي ګانو درلودونکې وي، ترڅو د نارینه وو مسئولیت د ایډز د مخنیوي په اړه توانمند کړي.

س) د همجنس باز نارینه وو لپاره د کارګرو او د هغوي د استازو د مشورې وروسته د وقایې مناسب او هدفمند پروګرامونه جوړ شي.

## ۴،۶ - د روغتیا پرمختیایي پروګرامونو سره اړیکه

روزنیز پروګرامونه باید د روغتیا د پرمختیا پروګرامونو سره، چې د هغه مسایلو سره کار کوي لکه د موادو ناوړه استفاده، روحي فشار او جنسي روغتیا په کارځای کې، اړیکه ولري. د کار موجوده شوراګانې یا د روغتیا او خوندیتوب کمیټې د ایډز د کمپاینونو او روزنیز پروګرامونو لپاره د پیل ځای دی. دغه اړیکه باید د ککړو ستنو د وریدي پیچکاریو د استعمال په وخت کې، د انتان خطرونه څرګند کړي؛ همدارنګه الکول او د درملو زهري کېدل د ایچ آی وی انتان د خطرونو د زیاتېدو لامل ګرځي.

## ۵،۶ - هغه عملي ګامونه چې له سلوکي تغیراتو څخه ملاتړ کوي

الف) کارګرو ته باید حساس، دقیق او تازه تعلیمات د خطرونو د کمولو د ستراتیژۍ په اړه ورکړل شي او که چېرې ممکن وي ښځینه او نارینه کانډوم برابر شي.
ب) د توبرکلوز او جنسي اړیکو له لارې انتقال شوی ناروغۍ په وخت تشخیص، درملنه او منجمنت همدارنګه د شونتیا په صورت کې د معقم ستنو او پیچکاریو د تبادلې پروګرامونه برابر شي او یا هم معلومات ددې په هکله چې دا سامان له کومه ځایه لاس ته راوړل کېږي.

## ۶،۶ - ټولنیز لاس رسي پروګرامونه

کارګمارونکي، کارګران او د هغوی استازی باید معلوماتي او روزنیز پروګرامونه د ایډز د مخنیوي او منجمنت لپاره په محلي ټولنو، مخصوصا په ښوونځیو کې، تشویق کړي. په لاس رسي پروګرامونو کې د خلکو برخه اخیستنه باید تشویق شي ترڅو خلکو ته دا موقع ورکړل شي ترڅو خپل افکار بیان کړي او د ایډز کارګرو کار د هغوي د انزوا د کمولو په واسطه، ښه کړل شي.
دا ډول پروګرامونه باید د مناسبو محلي او یا ولسي اشخاصو او مشرانو سره په همکارۍ او تفاهم کې پر مخ بیول شي.

## ۷- روزنه

روزنه باید لاندې مختلفو ګروپونو ته متوجه وي: ریسان، مدیران، امرین، کارګران او د هغوی استازی، ښځینه او نارینه ماستر ترینران (سررروزونکی)، همکار روزونکې، مسلکي روغتیایي کارکوونکي او د فابریکې او کارګرو څارونکي. د لګښت په منلو دې نوښتګرې او ابتکاري لارې ولټول شي، د بیلګې په توګه، تصدی کولای شي چې د ایډز د بهرنیو پروګرمونو څخه د استادانو را جلب کولو له لارې مرسته ترلاسه کړي. د روزنې مواد د موجوده سرچینو پر بنسټ، تر ډېره کچه تو پییر لرې. دا مواد کېدای شي چې د محلي رواجونو او د ښځو او نارینه وو مختلفو حالتونو سره سم، ترلاسه شي. روزونکو ته به دا هم ونبودل شي چې څرنګه د اقلیت خلکو سره د تعصب، په وړاندې برخورد وکړي خاصتا د نژادي منشې او جنسي دریځ په ارتباط. هغوي باید د هرې پیښې د مطالعې لپاره د تمرین ښه مواد برابر کړي. ښه روزونکي ډېر وخت په خپله مامورین دي نو ځکه همکارو زده کړو ته په ټولو کچو کې برترې ورکول کېږي. دا باید د کارځای د کلني روزنیز پلان یوه برخه وګرځي او همدارنګه باید د کارګرو د استازي مشورې سره سم پراختیا ومومي.

### ۱،۷ - د ریسانو، مدیرانو او د کدر او پرسونل امرینو روزنه

په روزنیز او معلوماتي پروګرامونو کې چه د ټولو کارګرو لپاره دایریږي، د برخې اخیستنې څخه علاوه، مدیران او آمرین باید په لاندې برخو کې روزنه ترلاسه کړي:

- د هغوي توانمند کول ترڅو وکولی شي د کارځای د ایډز د کړنلاره په اړه توضیحات او سوالونو ته ځواب ورکړي.
- د ایډز څخه ښه با خبره وي ترڅو نورو کارګرو سره په کارځای کې د ایډز د خپرېدو د غلط تصور د له مینځه وړلو په اړه مرسته وکړي او معلومات ورکړي.
- په ایډز اخته کارګرو ته د مناسب معیشیت شونتیاوو په اړه معلومات ورکول، ترڅو هغوي وتوانېږي تر هغه پورې چې شونتیا لري کار وکړي.
- د کارځای د رویې پېژندنه او اداره کول کوم چې د ایډز کارګرو سره تبعیض ګڼل کېږي.
- د هغوي توانمند کول چې د موجوده روغتیایي خدمتونو او ټولنیزو ګټو لاربنونه وکړي.

### ۲،۷ - د همکارو ښونکو روزنه:

همکار ښونکی باید تخصصي روزنې ترلاسه کړي ترڅو:

- د ایډز د مخنیوي د طریقو په باره کې د کافي معلوماتو درلودونکي وی چې وکولی شي په مجموعي یا په نسبي توګه معلومات او د روزنیز پروګرام موضوعات، کارګرو ته انتقال کړي.
- نژاد، جنسي دریځ، جندر او کلتور سره په خپلې روزنې کې، حساس وي.
- د نورو موجوده د کارځای کړنلارو سره ارتباط ولری او د هغه کسانو لپاره چې په کارځای کې ناتوانه دي، مټ وګرځي.
- خپلو همکارانو ته توانمندی وربښل، ترڅو هغه لاملونه چې د منتن (په ایډز ککړ) کېدو خطرات زیاتوي، په خپل ژوند کې وپیژني.
- ددې توانایي ولري چې په ایډز اخته کارګرو ته د هغوی د حالاتو سره د مقابلې په اړه مشورې وکړي.

### ۳،۷ - د کارګرو د استازو روزنه

د کارګرو استازي په خپل کاري ساعتونو کې باید روزنه ترلاسه کړي ترڅو:

- ددې توانايي ترلاسه کړي چې په کارځای کې د ایډز کړنلارې په اړه څرګندونو او سوالونو ته ځوابونه ورکړي.
- ددې توانايي ترلاسه کړي چې نور کارګران، د استادانو په روزنیز پروګرامونو کې، وروزي.
- د کارځای د روبې پېژندنه او اداره کول، کوم چې د ایډز اخته کارګرو په وړاندې تبعیض ګڼل کېږي؛ ترڅو هغه سره په کارنده توګه مبارزه وشي.
- په ایډز اړونده اخته ناروغانو سره مرسته او د هغوي استازيتوب، ترڅو د اړتیا په وخت کې هغوی له مناسب استوګنځی څخه برخمن شي.
- ددې توانايي ولري چې په ایډز اخته کارګرو ته د هغوي په شخصي ژوندانه کې، د خطر لاملونه وپيژني او د هغوي د کمولو په اړه مشورې ورکړي.
- ددې اطمینان ورکړي چې هر هغه معلومات چې د ایډز له اخته کارګرو څخه یې ترلاسه کوي، محرم او پټ ساتل کېږي.

### ۷،۴ - د روغتيا او خونديتوب ماموريونو روزنه

معلوماتی او روزنیز پروګرامونو سره د آشنا کېدلو نه علاوه، روغتیايي او د خونديتوب مامورين باید تخصصي روزنې ترلاسه کړي ترڅو:

- د ایډز د مخنیوي د لارو چارو په اړه نبایسته ډېر معلومات ولري ترڅو وکولی شي روزنیز او معلوماتي پروګرامونه کارګرو ته ور انتقال کړي.
- د کاري چاپيريال د ارزونې توان ولري او کاري میتودونو او حالاتو باندې حاکم وي، په هغو کې تغیرات راولي او یا ورته پراختیا ورکړي ترڅو په ایډز اخته کارګرو د زیان منني کچه کم کړي.
- اطمینان ورکړي چې کار ګمارونکي یو سالم کاري چاپيريال په شمول د لومړني مرستو پروسیجرونه د کارګرو لپاره را مینځته کړي او دوام ورکړي.
- اطمینان ورکړي چې اړونده ایډز معلومات ،په محرم ډول ،د نورو طبی معلوماتو سره ساتل کېږي او صرف د کارګرو د شخصي معلوماتو د محرمیت پر اساس د کار د نړیوال سازمان د کارګرو د شخصی سوابقو د محرمیت د کړندود سره سم په ډاګه کېدی شي.
- کارګرو ته د هغوي په ژوندانه کې د خطر فکتورونو د کمولو په اړه د مشورې ورکولو توان ولري.
- ددې توان ولري چې کارګر د کارځای او کارځای نه بهر طبي خدمتونو ته راجع کړي، چې پدې ډول د هغوي غوښتنو ته په موثره توګه ځواب ورکړل شي.

### ۵،۷ – د کار او فابریکو څارونکو(مفتیشینو ) روزنه

صلاحیت لرونکي چارواکي باید ډاډ ترلاسه کړي ترڅو څارونکی ته تولې شونتياوي برابرې کړي چې خپل د سرپرستۍ او مشورتی فعالیتونه په ځانګړې توګه د ایډز د مخنیوي په اړه تر سره کړي. ددې هدف ترلاسه کولو لپاره، هغوي باید په کارځای کې د ایډز د مخنیوي د ستراتيژۍ په اړه تخصصي روزنه ترلاسه کړي. دا روزنه باید د لاندې مسايلو درلودونکي وي:

- د کار د نړیوالو معیارونو په اړه معلومات، په ځانګړې توګه د تبعیض کنوانسیون (کار او مسلک ) ۱۹۵۸ (ګڼه-۱۱۱ ) او ملی قوانینو په اړه معلومات؛
- څرنګه وکولای شو چې د ایډز په اړه کارګرو او اداري مامورينو ته خبرتیا ورکړو ؛
- څرنګه وکولای شو چې په روغتیايي ويناوو او روزنو کې د ایډز په اړه موضوعات دخیل شي؛
- کارګرو سره څرنګه مرسته وشي چې موجوده ګټو ته لاس رسی ولری او له نورو قانونی حقونو څخه برخمن شي؛
- څرنګه سرغړونې، او د ایډز په ناروغۍ اخته کارګرو د حقونو نه مراعت کېدلو وضعیت وپیژندل شي؛
- په کارځای کې د ایډز په اړه د معلوماتو د راټولولو او څېړلو مهارتونه، په هغه وخت کې چې دغه معلومات د اپیډمولوژي او ټولنیز اغیزو د څیړنې لپاره کارول کېږي.

### ۶،۷ - د هغه کارګرو لپاره روزنه چې د انسان د وینې او یا د وجود نورو مایعاتو سره په تماس کې وی

ټول کارګر باید د انتان د کنټرول هغه کړنلارو او لومړنۍ مرستو په اړه روزنه ترلاسه کړي، کوم چې په کارځای کې په اتفاقي ډول را مینځته کېږي. د روزنې پروګرام باید د لاندې ټکو درلودونکې وي:

- د لومړنیو مرستو برابرول؛
- عمومي پاملرنې ، ترڅو د انسان د وینې او د وجود نورو مایعاتو سره د تماس خطرات کم کړل شي (دوهمه ضمیمه دې وکتل شي)؛
- د خوندیتوب وسایلو کارول؛
- د انسان د وینې او یا د وجود نورمایعاتو سره د تماس په صورت کې د روغتیایي کړنلارو تعقیبول؛
- د مسلکي پېښې په صورت کې د غرامت(تاوان) د حقونو درلودل؛
- او تاکید پر دې چې عمومي پاملرنې د خلکو د ایچ آی وی د ریښتني یا فرضي حالت سره لزوماً اړه نلري.

## ۸ - معاینه

د ایچ آی وی معاینه یا آزموینه باید په کارځای کې په عادي حالاتو کې ترسره نشي؛ مګر په هغه حالاتو کې چې په دې کړندود کې راغلي دي. دا یو غیر ضروري کار دی او د کارګرو حقوق په خطر کې اچوي. ممکن د معاینې نتیجه په ډاګه شي او ناوړه استفاده ترې وشي. څکه چې د خبر شویو کسانو رضایت همیشه نه ترلاسه کېږي، او دوی د معاینې د نتیجې په اړه خوشبین نه وي. له دې کبله حتی د کارځای څخه د باندې هم، د ایچ آی وی لپاره معاینه باید په محرمانه توګه او یوازې د یو لایق او مجرب کس لخوا ترسره شي.

## ۱،۸ - په استخدام او کارګمارلو کې مخنیوی

د استخدام په وخت کې باید د ایچ آی وی د آزموینې غوښتنه ونشي او یا د استخدام د شرط په توګه ونه کارول شي. نورمال روغتیایي آزموینه ، لکه د وجود سلامتي آزموینه مخکې د کار پیل کولو څخه باید د ایچ آی وی آزموینه د ځانه سره ونه لري.

## ۲،۸ - د بیمې د مقاصدو لپاره مخنیوی

الف) د ایچ آی وی آزموینه باید هیڅکله هم د ټولنیز امنیت، د بیمې عمومي پالیسي او روغتیایي بیمی لپاره د مستحق کېدلو د شرط په څیر و نه غوښتل شي.

ب) د بیمې کمپنی د کارځای د بیمې کولو لپاره باید مخکې د موافقې څخه د ایچ آی وی د آزموینه غوښتنه و نکړي. هغوی باید خپل بیعې او د کلني عاید اندازه د موجوده اپیدمولوژي معلوماتو پر بنسټ محاسبه کړي.

ج) کار ګمارونکي باید د بیمې د مقاصدو لپاره کوم آزموینه ته لاره هواره نکړي او هغه ټول معلومات چې ورسره شته، محرم وساتي.

## ۳،۸ - اپیدمولوژیک نظارت

د نوم په نه پامنیوی سره، په کارځای کې د ایچ آی وی اپیدمولوژیکه آزموینه باید پدې شرط ترسره شي چې د ساینسي څېړنو او اخلاقي بنسټونو ، مسلکي اخلاق، او د خلکو د محرمیت د حقونو په پام کې نیولو سره سم وي. په هغه ځای کې چې داسې څېړنې ترسره کېږي، لازمه ده چې کارګرو او کارګمارونکو ته دمخه خبر ورکړل شي چې داسې څېړنې ترسره کېدونکې دی. هغه معلومات چې ترلاسه کېږي، باید چې د خلکو تر مینځ د تبعیض لپاره ترې کار وا نه خیستل شي. آزموینه به په هغه وخت کې ناځرګنده پاتې نشي، کله چې ددې شونتیا موجود وي چې د شخص د ایچ آی وی حالت د نتایجو څخه تنقیص کېږي.

## ۴،۸ - داو طلبانه معاینه یا آزموینه

داسې هم کېدای شي چې کارګران په خپله خوښه په داوطلبانه ډول د آزموینې پروګرام کې ځانونه وازمایي. داوطلب آزموینه باید په نورمال ډول د ټولنې د روغتیایي خدمتونو د یوې برخې په څیر خلکو ته اجرا شي، نه په کارځای کې. د کافي روغتیایي شونتیاوو د موجودیت په صورت، د کارګرو د لیکلې موافقې او د هغوی د استازي د مشورې پر اساس، داوطلبه آزموینه ترسره کېدای شي چه

بايد د يو مناسب مسلکي شخص په واسطه په جدي ډول د محرميت په پام کې نيولو سره سم تر سره شي. جندر ته حساس د آزموينې څخه وړاندې او وروسته مشورې، چې د ايچ آی وی د آزموينې څرنګوالی او مقصد مونږ ته په ډاګه کوي، د آزموينه ګټې او زيانونه، او د نتايجو اغيزې پر کارګرو باندې، بايد د هرې آزموينې يوه بنسټيزه برخه جوړه کړي.

## ۵،۸ - د مسلکي مواجه کېدو څخه وروسته آزموينه او درملنه

الف) په هغه ځايونو کې چې د انسان د وينې او يا د وجود مايعاتو او انساجو سره د تماس خطرات موجود وي، کارځای بايد د يو کړنلارې لرونکې وي چې د مواجه کېدو په صورت کې د مسلکي پيښو او خطرونو مخنيوی وکړي.

ب) په کارځای کې د يو ممکنه ملوث يا ککړ شي سره (د انسان وينه، د وجود مايعات، انساج) د مواجه کېدو د خطر څخه وروسته، کارګرو ته بايد ددې حالت سره د مجادلې، طبې پايلې، د ايچ آی وی آزموينه او د مواجه کېدو وروسته د وقايې په اړه مشوره ورکړل شي، او يو مناسب طبی مرکز ته ولېږل شي. د خطر د ارزيابۍ د پايلو څخه وروسته، کارګرو ته د هغوي قانوني حقونو په اړه د تاوان د تر لاسه کولو د مستحق کېدنې او اړينو طی مراحلو په اړه لارښوونه وشي.

## ۹ - پاملرنه او ملاتړ

يووالی، پاملرنه او ملاتړ هغه بنسټيزه عناصر دي چې بايد د ايډز سره د مجادلې لپاره په کارځای کې لارښوونه کوي. د هغه کارګرو لپاره چې خپل ايچ آی وی حالت څرګندوي بايد داسې ميکانيزمونه جوړ شي چې هغوي تشويق او حمايت شي، او اطمينان حاصل شي چې هغوي په وړاندی به تبعيض او بې عزتی نه کېږی. ددې لپاره چې په کارځای کې د ايډز اپيدمی د اغيزې کمې کړو نو د کارځای بايد داسې هلې ځلې وکړي ترڅو هغه کسان چې په ايډز اخته دي او اغيزمن شوي دي، ټولنيز حمايت ترلاسه کړي. که چيرې که د کار په ځای کې روغتيايي خدمتونه موجود وي، نو مناسبه تداوي دې برابره شي. که چيرې ددې ډول خدمتونو شونتيا موجوده نه وي، نو کارګرو ته ددې ډول خدمتونو موقعيت ور وښودل شي. اړيکې دا ګټه لري چې مونږ ته دا فرصت راکوي چې د کارګرو نه وړاندې دهغوي کورنيو او په خاصه توګه ماشومانو ته لاسرسی پيدا کړو. د دولت او کارګمارونکو، کارګرو او د هغوي ټولنو، او نورو اړونده چارواکو سره خپل منځي همکاري، د اغيزمن خدمتونو په وړاندې کولو او د قيمت د کمښت په اړه مرسته کوي.

## ۱،۹ - د نورو جدي ناروغيو سره ورته والی

الف) د ايچ آی وی انتان او کلينيکې ايډز په کارځای کې د مرستې له نظره د نورو جدي ناروغيو او حالاتو څخه بايد کم و نه ګڼل شي.

ب) هغه کارګران چې په ايډز اخته دي د مناسبې تداوی، غرامت او نورو ګټو په برخې کې د هغه کارګرو په پرتله چې په نورو جدي ناروغيو اخته دي کم و نه ګڼل شي.

ج) تر هغه ځايه چې کارګران د طبي له پلوه د کارکولو توان ولري، هغوي بايد د کار نورمال امنيت او فرصتونو څخه د خپل په ترقی کې ګټه واخلي.

## ۲،۹ – سلا (مشوره کول)

الف) کارګمارونکې بايد هغه کارګران چې په ايډز اخته دي وهڅوی ترڅو تخصصی مرستې او مشورې د کارځای څخه د باندې که چيرې تخصصي او محرم مشورتي واحدونه موجود وی، ترلاسه کړي.

ب) دې مسلې ته د عملي بڼې ورکولو لپاره، کارګمارونکې بايد لاندني ټکې په پام کې ولري.
- په محلي ټولنې يا ساحي کې د کارپوهانو او ځاني مرستو ګروپونه چې په ايډز اړونده مشورو او درملنو کې تخصص لري، ځانګړی کړي؛

- د طبي او غير طبي ټولنيز موسساتو ځانګړی کول او پيژندنه، چې په ايډز اخته کارګرو ته اغيزمنه وي؛

- که چیرې کارګران وړاندې تداوي شوی نه وي، هغو ته مشوره ورکول چې خپل ډاکټر یا طبي مشاور سره اړیکه ونیسي تر څو ابتدایي ارزیابي او درملنه یې وکړي. او که چیرې کارګران خپله ډاکټر نلري، هغه سره مرسته وشي تر څو د طبي مرستو متخصص ډاکټر ته معرفي شي.

ج) کارګمارونکي هغه کارګرو ته چې په ایډز اخته دي مناسب رخصت ورکړي تر څو هغوی د مشورې او درملنې لپاره د حد اقل ملی مقتضیاتو په پام کې نیولو سره ترې استفاده وکړي.

د) مشورتي مرستې باید د پیسو پرته ښځینه او نارینه کارګرو ته د هغوی د حالاتو او شرایطو مطابق برابرې شي. دا به مناسبه وي چې له دولت ، کارګرو او د هغوي ټولنو او نور اړونده چارواکو سره ددې ډول مرستو په برابرولو کې اړیکه ټینګه شي.

ر) د کارګرو استازي باید د غوښتنې په وخت کې په ایډز اخته کارګرو سره د مسلکي مشورو د ترلاسه کولو لپاره مرسته وکړي.
س) مشورتي خدمات باید ټول کارګران د هغوی د حقونو او امتیازاتو، ټولنیز امنیت او مسلکي امتیازاتو څخه خبر کړي او د هر هغه پروګرام لار ښوونه وکړي چې د ایډز سره د مجادلې لپاره کارګرو سره مرسته کوي.

ش) په تصادفي ډول د ایچ آی وی سره د مواجه کېدو په صورت کې، کارګمارونکي باید کارګرو ته مناسبه رخصتی د طبی مشورې د ترسره کولو لپاره ورکړي.

### ۳،۹ - مسلکي او نور روغتیایي خدمتونه

الف) ځینې کارګمارونکي به ددې توان ولري چې خپل کارګرو ته د ریترو وایرس ضد درمل برابر کړي. په هغه کار ځایونو کې چې طبي خدمتونه مهیا دي، د دولت او نورو اړونده چارواکو د مرستو په اساس، باید پراخ روغتیایي خدمات وړاندې کړي تر څو په ایډز اخته کارګرو سره مرسته وشي.

الف) دا خدمتونه د ریترو وایرس ضد درملو برابرول، د اړونده ایچ آی وی اعراضو یا شکایاتو درملنه، د تغذیې په اړه مشورې، د روحي فشار کمول، او د فرصت طلبو انتاناتو درملنه لکه ایس ټی ډی یا د جنسی لاری انتقال شوی ناروغی او توبرکلوز درملنه باید د ځانه سره ولري.

### ۴،۹ - د ځاني مرستو او ټولنیز ګروپونو سره اړیکې

د اړتیا په صورت کې، کارګمارونکي، د کارګرو د ټولنو او د مسلکي روغتیا کارګران باید په کارځای کې د ځاني مرستو ګروپونو په تاسیس کې هلې ځلې وکړي او یا د ایډز څخه اغیزمن کارګران ټولنیزو ګروپونو او ملاتړ کوونکو موسساتو ته راجع کړي.

### ۵،۹ - ګټې او امتیازات

الف) دولت د نورو ټولنیزو شریکانو د مشورې پر اساس، باید ډاډ ورکړي چې د ایډز د کارګرو ګټې او امتیازات د هغه کارګرو سره چې نور جدي ناروغۍ لري څه توپیر ونلري. هغوي باید د نویو امتیازاتو شتون هم وڅیړي، کوم چې د ایډز پرمختلونکي طبعیت ته متوجه دي.

ب) کارګمارونکي، د کارګرو او کارګمارونکو ټولنې د ایډز کارګرو د اړتیاو سره سم د ګټو د میکانیزم د جوړولو لپاره دولت سره یو ځای کار وکړي.

### ۶،۹ - د ټولنیز امنیت پوښښ

الف) دولت، د کارګمارونکو او کارګرو ټولنې باید ټول لازم ګامونه واخلي تر څو یقیني کړي چې په ایډز اخته کارګران او د هغوي کورنۍ د ټولنیز امنیت پروګرامونو د امتیازاتو څخه پاتې نشي. دا باید د ټولنیز او مسلکي ګروپونو په کارګرو او د هغوي په کورنیو چې د ایډزله خطر سره مواجه دي، هم عملي شي.

ب) دا ډول پروګرامونه باید په مساوي ګټې د ایډز ناروغه کارګرو او نورو جدي ناروغیو لرونکي کارګرو ته ورسوي.

### ۷،۹ - محرمیت او راز ساتنه

الف) دولت، د بیمې شخصي کمپنۍ او کارګمارونکي باید ډاډ ورکړي چې هغه ټول معلومات د کارګرو د مشورې، درملنې او ګټې اخیستنې په اړه، محرم ساتل کیږي او یوائې د مسلکي روغتیا خدماتو سپارښتلیک ۱۹۵۸ میلادی کال (ګڼه- ۱۷۱) په اساس، ترلاسه کیدای شي.

ب) دریېم اړخ، لکه معتمد کسان او د ټولنیز امنیت اداره کارکوونکي او کاری پروژې باید د ایډز او د کارګرو اړونده طبی معلومات د کار نړیوال سازمان د کارګرو د شخصی معلوماتو د ساتنې کړندود پر اساس محرم وساتي.

### ۸،۹ – د کارګرو او کورنیو د مرستو پروګرامونه

الف) د اپیدیمۍ د څرنګوالي په رڼا کې، د کارګرو د مرستو پروګرامونه باید جوړ او یا پراخ شي ترڅو یو شمېر خدمتونه کارګرو ته برابر شي ترڅو د خپلې کورنۍ غړي حمایه کړي چه باید د کارګرو او د هغوي د استازو سره د مشورې پر بنسټ د اړتیاوو او د سرچینو سره سم د دولت او نورو اړونده ارګانونو په همکارۍ ترسره کېدی شي.

ب) دا ډول پروګرامونه باید په ډاګه کړی چی ښځې د ایډز اخته کسانو په پالنی کې مهمه ونډه لرې، همدا راز دا پروګرامونه باید د حامله ښځو ځانګړی اړتیاوی هم په ګوته کړی. دا پروګرامونه باید د هغه ماشومانو اړتیاو ته ځواب ورکړی چی خپل مور یا پلار یی د ایډز له امله له لاسه ورکړې او ممکن له ښوونځی څخه ووځی او کارکولو ته مجبور شی او په زیاتیدونکې ډول جنسی ګټی اخیستنی ته برابر یا مستعد شی. دا پروګرامونه کېدای شی چی د کور دننه وی، او تصدۍ کولی شی چی دا ډول پروګرامونو سره په ټولییز ډول او یا د هر خدمت لپاره د تړون په اساس، مرسته وکړی.

ج) د کورنۍ مرستې پروګرام د لاندې موضوعاتو درلودونکې دی:

- د رخصتۍ اجازه
- په معلوماتی او روزنیز پروګرامونو کې د ګډون بلنی
- ځانی ملاتړ کروپونو ته مراجعه
- د کار د ترلاسه کولو په منظور د کارګرو د کورنیو سره مرسته، پدې شرط چی دا کار د ښوونځی په بهیر کې مداخله ونکړی
- ځانګړی اقدامات، لکه د رسمی او مسلکې زدکړو څخه ملاتړ، ترڅو د هغو ماشومانو او ځوانانو غوښتنو ته ځواب ورکړی، چا چی خپل یو یا دواړه مور او پلار د ایډز له امله له لاسه ورکړې
- د ټول اړونده چارواکو او ټولنیز موسسو سره همکاری، په شمول د هغه ښونځیو چی د کارکوونکو ماشومان پکې شامل دی
- مستقیمی او غیر مستقیمی مالی مرستې
- د مالی مسایلو سمبالښت او اداره چی په ناروغۍ او د ناروغانو غوښتنو پوری اړه لری
- قانونی مشورې، معلومات او مرستې
- د ناروغۍ او د مرګ د قانونی پروسی د پوهیدو په اړه مرسته لکه د ناروغۍ د مالی مسایلو سمبالښت، د وصیت برابرول او د بریالیتوب پلانونه
- کورنیو سره مرسته کول ترڅو د ټولنیز امنیت پروګرامونو سره راکړه ورکړه ولری
- کارګرو ته دمخه تنخوا ورکول
- اړونده قانونی او روغتیایی مراجعو ته د کورنیو راجع کول او یا د اړونده مراجعو د لیست برابرول

## لومړی ضمیمه

### د ایډز د ساری ناروغۍ په هکله بنسټیز حقیقتونه او مفاهیم:

### د HIV او AIDS په اړه حقیقتونه

د انسان د معافیت سیستم د عدم کفایي ویروس یا ایچ آی وی چی د ایډز د ناروغۍ د منځ ته راتلو لامل ګرځی د بدن د مایعاتو له لاری؛ په خاصه ډول وینه، منی، مهبلی افرازات او د شیدو له لاری انتقالیږی. ثابته شوی چی نوموړې ناروغی له څلور لارو څخه د یو کس څخه بل کس ته انتقالیږی، چی په لاندې ډول ورڅخه یادوونه کوو:

1. د یو منتن (په ایډز ککړ) شخص سره د نامحفوظه جنسی اړیکو درلودل (تر ټولو زیات انتقال له همدی لاری صورت نیسی)
2. د وینی له لاری، د مثال په ډول د منتن (په ایډز ککړ) شوی وینی ورکول بل شخص ته او یا د منتن (په ایډز ککړ) شخص څخه د نسج یا عضوی پیوند اخیستل.
3. د ملوث شوی پیچکاری یا نورو پوستکي سوری کوونکو وسایلو په شریکه توګه کارول.
4. د منتن (په ایډز ککړ) شوی مور څخه د هغی ماشوم ته نوموړې ویروس د حاملګی، ولادت او یا د شیدو ورکولو په وخت کې انتقالیږی.

ایچ آی وی د تصادفی فزیکي تماس، ټوخی، پرنجی او ښکلولو یا مچولو له لاری نه انتقالیږی، همدارنګه د ګډ تشناب، د حمام وسایل، د خوړو د لوښی په واسطه او د هغی خوراکي توکو او څښاک مصرفول چی د ایډز د ناروغ په لاس لیږدول شوی نوموړې ناروغی نه انتقالیږی. همدا راز ایډز د غوماشو او نورو حشراتو د چیچلو په واسطه نه خپریږی.

ایچ آی وی د انسان د بدن معافیتی سیستم ضعیفه کوی او دهغه لپاره دا ستونزمنه کوی ترڅو د انتان سره مجادله وکړی. یو شخص شاید تر لسو او یا تر زیات په داسی حال ژوند وکړی چی منتن (په ایډز ککړ) وی خو پدې موده کې کوم اعراض یا شکایات او یا کومه ناروغی ونلری مګر په همدی موده کې کولای شی چی انتان نورو خلکو ته انتقال کړی.

د ایډز لمړنی اعراض یا شکایات عبارت دی له دوامداره ستړیا، اسهال، تبه، ذهنی تغیرات لکه د حافظی له لاسه ورکول، د وزن کمښت، دوامداره ټوخی، د پوستکي پر مخ شدید او مکرر بخار او دانې، د پوستکي التهاب، د خولی انتانات او د لمفاوی عقداتو پړسوب. همدارنګه فرصت طلبه ناروغی لکه سرطانون، منتژیت، سینه و بغل او توبرکلوزیا نری رنځ هم شاید د بدن د ضعیفه معافیتی سیستم څخه ګټه پورته کړی.

سره لدی چی کېدای شی مریض کله کله روغ هم وی مګر ایډز تقریباً همیشه وژونکي ناروغی ده. د ریتروویروس ضد داسی درمل شته چی د مرض پرمختګ بطی کوی او د ناروغ عمر یو څه اوږدوی خو په اوس وخت کې دا درمل ډیر قیمتی دی. په پایله کې ویلای شو چی ډیر ناروغان دا درمل په واک کې نلری مګر دا حالت به په چټکتیا سره بدلون مومی.

ایچ آی وی یو نازک او ضعیفه ویروس دی چی یوازی په یو لړ محدود شرایطو کې ژوندی پاتی کېدای شی. نوموړې ویروس یوازی د طبیعی مرطوبو ناحیو څخه بدن ته ننوتلای شی او د سالم پوستکي څخه نشی کولای بدن ته نفوذ وکړی، نو په دې سره ویلای شو چی د نوموړې ناروغۍ مخنیوی پدې شکل کېدلای شی چی بدن ته د ویروس د ننوتلو په وړاندی موانع ایجاد کړو، د بیلګې په توګه د جنسی اړیکو پر مهال د کانډم کارول او همدارنګه د اړتیا په وخت کې بعضی حفاظتی وسایل لکه دستکشی، ماسک او نورو شیانو کارول او بل دا چی پوستکي سوری کوونکي وسایل باید ملوث یا ککړ نه وی. نوموړې ویروس د بلیچ (یو ډول پاکوونکي ماده) قوی دیترجنت (تصفیه کوونکي او پاکوونکي ماده لکه صابون) او د ډیرو ګرمو اوبو په واسطه له منځه ځی.

### شمیرې او پر کاری ځواک د ایډز اغیزه:

د ۲۰۰۰ کال په پای کې له (۳۶) میلیونو څخه زیاتو په ایډز اخته خلکو په نړۍ کې ژوند کاوه چی له دی ډلی څخه دوه پر دریمه برخه په نیمه صحرایی افریقا کې اوسیدل. نږدی (۲۲) میلیونه خلکو د ایډز په وجه خپل ژوند له لاسه ورکړی چی له دی ډلی څخه یوازی په ۲۰۰۰ کال کې په ټوله نړی کې (۳) میلیونه وګړو خپل ژوندون له لاسه ورکړئ.

ډیری سیمی د نوموړې ناروغۍ څخه اغیزمنې شوی دی، په نیمه صحرایی افریقا کې د هغو لویانو او کوچیانو شمیر چی په ایډز مبتلا دی له ۲۵ میلیونو څخه زیات دی. همدارنګه په آسیا کې له (۶) میلیونو څخه زیات، په لاتینه امریکا او د کارابین په سیمه کې

نږدې (۲) میلیونه، په شمالي امریکا کې څه کم (۱) میلیون، په لویدیځه اروپا کې نیم میلیون، په ختیځه اروپا او مرکزي آسیا کې د میلیون درې پر څلورمه برخه، په شمالي افریقا او منځنۍ ختیځ کې نیم میلیون وګړي په ایډز اخته دي.

سره له دې چې د انتقال لارې شاید یو له بل سره توپیر ولري خو سیمې مخ پر زیاتیدونکې ډول دې انتان سره مخ دي. په افریقا کې د ایډز په وجه د مړو شویو کسانو شمیر څرګندوي چې په (۲۰۱۰) کالې کې به په (۲۹) هغو هیوادونو کې چې له (۲٪) څخه زیات وګړي یې په ایډز اخته دي؛ ټولټیز توکم به یې (۲۵) میلیونه له هغه شمیر څخه کم وي چې د ایډز په نشتوالي کې به وه. په ایډز باندې اخته کېدلو کې سن او جنس دواړه اهمیت لري چې په زیاتو هیوادونو کې ښځې نسبت سړیو ته په کم عمر کې منتن (په ایډز ککړ) ی کېږي. په افریقا کې تر نیمایی زیات نوی انتانات په ښځو کې موجود دي. زیاتره هغه وګړي په دې ناروغی اخته کېږي چې (۱۵-۴۹) کاله عمر لري او ددې عمر کسان د یوې ټولنې فعال نسل دی چې د ناروغی په وجه د هغوی کورنی، ټولنیزې او اقتصادی مرستې له منځه ځي.

د کار نړیوال سازمان تخمینوی چې په ټوله نړۍ کې له (۲۰) میلیونو څخه زیات کارګران په ایډز اخته دي. په هغو هیوادونو کې چې د ایډز ناروغی کچه خورا لوړه ده؛ اټکل شوی چې په (۲۰۲۰) کال کې به کـــاری ځواک له (۱۰٪-۳۰) پوری تر هغی کم وی چې د ایډز په نشتوالي کې به وه. (۱۴۰) میلیونه کوچنیانو خپل یو یا دواړه مور او پلار د ایډز په وجه له لاسه ورکړی دی چې دا حالت نوموړی کوچنیان مجبوروی ترڅو له مکتب څخه لاس په سر شی او د کارکولو لپاره مارکېټونو ته مخ کړی، چې په دې صورت کې په کم سنه کوچنیانو باندی د کارکولو ستونزه نوره هم زیاتیږي.

ایچ آی وی په اخته کسانو او دهغوی په کورنیو او ټولنو باندی ستره اغیزه کوی چې دا اغیزه د کورنی د هغو لویو او وړو غړو لپاره چې پر اخته کس متکې دی یوه لویه ستونزه را منځ ته کوی؛ نوموړې اغیزه د یو شخص او کورنی لپاره د یوی دستګاه او پروژی په سطحه منعکسه کېږي او لا تر دې زیات په ملي اقتصاد کې منفي اغیزه لري.
دغه ساری ناروغی د کار په نړۍ کې په زیاتو بڼو خپل ځان څرګندوی: لکه د تولید بندیدل، په استخدام کې تبعیض، د جنسي نابرابری، لاخرابوالی، پر کوچنیانو د کارکولو د کچی لوړوالی، همدارنګه د انساني پانګې کمښت، په روغتیایي او ټولنیز امنیتي سیستم باندی فشار، او د مسلکي خوندیتوب او روغتیا ته ګډیرمه تهدیدات.

## هغه حالات چې په زیان منني کې ونډه لري

### عمومي لاملونه

ایډز په هغو سیمو کې وده او پرمختګ کوی چیرته چې په اقتصادی، ټولنیزو او کلتوری حقونو باندی تیری کېږي او بشری او سیاسي نورمونه له پامه غورځول کېږي. له اقتصادي پلوه، فقر یا خواری د پام وړ فکتور ده؛ بیسوادی او له ټولنې څخه ګوښه والی، خوار او فقیر خلک ددې انتان په وړاندې لا متضرره کوي او همدارنګه خواری پر ښځو فشار راوړی ترڅو د ژوندی پاتی کېدلو او د خپلو کورنیو د حمایه کولو لپاره نامحفوظه جنسی اړیکو ته مخ کړي. فقیر خوراکي رژیم، ناکافی سرپناه او د حفظ الروغتیایي نشتوالي په ایچ آی وی باندی منتن (په ایډز ککړ) شوی کسان د هغو ناروغیو لپاره لا نور هم زیان منونکې کوی چې د ایډز سره تړاو لري. د ټولنیزو او کلتوری پلوه په شخصي او کاری روابطو کې نابرابری وګړی د جبری جنسي اړیکو په لور رهبری کوی همدا راز د وګړو سلوک او کړه وړه هم باید د خطر زیاتوونکو فکتورنو په حیث وپیژندل شي.

کېدای شی ایچ آی وی د هغو ککړو وسایلو له لاری انتقال شی چې په رګونو کې د دوا د پیچکاری کولو لپاره په کار وړل کېږي. همدا راز داسی شواهد شته چې د مخدراتو او الکولو څخه ناوړه ګټه اخیستنه د محفوظو جنسي اړیکو لپاره د انسانانو ځواک او توان کموي. په ایډز باندی د اخته کسانو تورنول او بی عزته کول د خلکو ترمنځ یوه طبیعي غوښتنه رامنځ ته کوی ترڅو د نوموړې ناروغی په هکله پټه خوله پاتی شی، چې دا پیښه د انتان د لا خپریدو سره مرسته کوی. کلتوری فشارونه او انکار د انتان د خپراوی اندازه په محلي او ملي ډول تر پوښښ لاندې راولي چې په نتیجه کې د وګړو او ټولنې لپاره د یو اغیزمن پلان طرحه کول لا نور هم سختیږي.

له مدني او سیاسي اړخه؛ شخړه ایز حالات، د قانون څخه سرغړونه، کمزوری قانوني چوکاټ او د قانون کمزوری پلی کېدونکې میکانیزم، او ددې ترڅنګ له تشکیلاتي حقونو او ډله ایز ډول راکړه ورکړې څخه انکار، دا ټول لاملونه په عمومي توګه د پرمختګ مخنیوی کوی او په خاصه توګه د ضروری روغتیایي پرمختګ لپاره اقدامات کمزوری کوي. په ډیرو هیوادونو کې ضعیفه تمویل شوی روغتیایي سیستمونه چې لاپخوا د قرضو او ساختماني چارو د مصارفو په وجه کمزوری شوی وی ددې جوګه ندي چې د ضرورت وړ پاملرنه او یا وقایوی خدمات خلکو ته وړاندې کړي.

په لنډه توګه ویلای شو چې د تبعیض ماحول او د بشر حقونو د درناوی نشتوالی ددی لامل ګرځی چې کارګران د انتان په وړاندی لا نور هم زیان منونکې شی او د ایډز په وړاندی د مقابلی توان له لاسه ورکړی. ځکه چې د هغوی لپاره دا ستونزمنه کېږی چې د رضاکارانه روغتیایی معاینات، مشوره غوښتنی او درملنی په لټه کې شی. همدارنګه هغوی به په داسی یو موقف کې قرار ونلری چې په مدافعوی او وقایوی مبارزه او هلو ځلو کې برخه واخلی.

## هغه لاملونه چې د کارګرو د ځانګړو ډلو لپاره د اخته کېدنې خطر زیاتوی:

د کار د شرایطو ځینی خاص ډولونه نسبت نورو شرایطو ته د اخته کېدنې د خطر په وړاندی ډېر مستعد او حساس دی، که څه هم اصلاً د پام وړ مسئله د انسان کړه وړه دی نه د هغه دنده؛ خو بیا دی هم دی شرایطو ته پاملرنه وشی. لاندې لست یو شمیر ځانګړی لاملونه را په ګوته کوی:-

- ګرځنده یا سیار کار؛ په ځانګړی توګه هغه کارګر چې مجبوره دی په منظم ډول سفر وکړی او د څپل خاوند یا میرمنی څخه جلا ژوند کوی.
- له جغرافیایی اړخه په یو جلا او بیل چاپیریال کې کار کول؛ چیرته چې محدودی روغتیایی اسانتیاوی موجودی وی.
- هغه شرایط او حالات چیرته چې کارګر د اخته کېدنې څخه مخنیوی نشی کولای.
- د یو جنس کارګرو کار کول او د نارینه وو تر منځ د ژوندانه ترتیبات.
- هغو کارونو کې چې نارینه حاکم وی او ښځې په اقلیت کې وی.
- هغه کار کې چې مسلکې خطر نغښتی وی او د عمومی پاملرنو معیارونه او اقدامات پکښی په پام کې نه نیول کېږی؛ لکه د انسان وینه او د وینې محصولاتو او د بدن د مایعاتو سره تماس، د منتن (په ایډز ککړ) شوی وینې خوندی نه ساتل، د پیچکاری د ستنې زخم او داسی نور.

په پورتنی لست کې یو شمیر غیر کارګر خلک هم پدې خاطر اضافه کولای شو ترڅو هغه حالات هم تر پوښښ لاندې راشی چیرته چې په کار نه ګمارل شوی کارګران په ښاری مرکزونو کې پدې هیله سره راغونډیږی ترڅو د ژوندی پاتی کېدلو لپاره کومه عایداتی سرچینه پیدا کړی، دا ډول کارګران هم د ایډز د خطر سره مخ دی؛ او بیځایه شوی کسان، د مهاجرینو د کمپ او سیدونکې، وزګار خلک او هغه کسان چې ځان متروک یا پرېښودی احساسوی ممکن پخپله خوښه جنسی اړیکو ته مخه کړی او یا دی کارته مجبور کړل شی.

## د غیررسمی یا خصوصی سکتور ځانګړې اړتیاوې

غیر رسمی ګارګر په ځانګړی توګه د ایډز د ناروغی لپاره په لاندې دلایلو سره مناسب کسان ګڼل کېږی؛ لمړئ، دا چې هغوی نشی کولائ چې د هغو روغتیایی اسانتیاوو او ټولنیزو حفاظتی ګټو څخه برخمن شی کوم چې رسمی کارګرو ته مهیا دی؛ دوهم، دا چې ددغو کارګرو فعالیتونه په نادره توګه په مالی تحفظ او ډاډ استوار وی او دریم، دا چې دهغوی د کار کم عمره او زیان منونکی طبیعت پدې معنی ده چې هره خلا او تشه ممکن د پانګی او یا تولید د له منځه تللو لامل شی.

د غیررسمی کار لپاره د یو او یا څو تنو کارګرو د لاسه ورکول د تصدئ لپاره غټی منفی پایلې لری، چې ممکن تصدئ د تباهی کندو ته وغورځوی. که چیری د تصدئ مالک په ایډز اخته، ناروغ او وروسته مړ شی؛ پدې صورت کې د پروژی سرمایه دهغه پر درملنی، ساتنی او یا خاورو ته د سپارلو په لار کې مصرف کېږی، چې په دی حالت کې په راتلونکې کې بیا پانګه اچونه له منځه ځی او په دستګاه باندی متکې کارګران او دهغوی د کورنی غړی محروم او و مایوسه پاتی کېږی.

د کلیوالو سیمو په غیررسمی سکتور کې د پاملرنې او څارنی لګښت ځینی وخت د کرهنیزو فعالیتونو څخه د کار د انحراف سبب کېږی او کار له منځه ځی ځکه چې د ایډز په وجه د خوراکې توکو تولید کمیږی او د غذا اوږد مهاله ساتنه د زوال سره مخامخ کېږی.

## د جنس بُعد

ښځې او نارینه د زیان منې په موده کې په ایډز باندی اخته کېدلو کې یو له بل سره توپیر لری، په ښځو کې یو شمیر بیولوژیکې لاملونه موجود دی چې هغوی نسبت نارینه وو ته د انتان په وړاندی ډېری زیان منونکې کوی. او همدارنګه د ښځو د بدن جوړښت دوی ته دا ستونزمنه کوی ترڅو د انتان د مخنیوی لپاره لازم اقدامات تر سره کړی، همدا راز په ښځو باندی د ایډز اغیزه نسبت نارینه وو ته شدیده وی.

- ډیری ښځې خپل د وادونو یا اړیکو د ټینګښت لپاره، په جنسی اړیکو یا اقتصادی مسئلو کې د نورو تابعداری ته اړ باسل کېږی؛ له دی وجی نشی کولای محفوظی جنسی اړیکې ولری او یا نامحفوظی جنسی اړیکې رد کړی.
- د ښځو د څواک نابرابری دوی په کارځای کې د جنسی اړیکو له تهدید سره مخ کوی.
- خواری اوغریبی د ایډز په وړاندی د زیان منني لپاره یو ستر مرسته کوونکې فکتور دی؛ او ښځې د نړی د غریب توکم غټه برخه جوړوی، د غریبی په ناورین کې، په ډیرئ حالاتو کې نجونی له ښوونځیو څخه بهر ایستل کېږی او پا اجباری کارونو او یا هم په جنسی اړیکو ګمارل کېږی.
- بیسوادی، وقایوی پیغامونو ته د ښځو د لاس رسی څخه مخنیوی کوی، چی پدې حالت کې ښځې نسبت نارینه وو ته په نړیواله کچه ډیری مبتلا کېږی (په ځینو هیوادو کې د نارینه وو په نسبت دوه برابره ښځې په ایډز مبتلا کېږی).
- ښځې د مهاجرینو یوه مهمه برخه جوړوی او د کوچنیانو سره یوځای د مهاجرینو دری په څلور برخې څخه استازیتوب کوی چی پدې حالت کې د ایډز د خپریدو خطر لا زیاتیږی. همدا راز په شخړه ییزو شرایطو کې د جګړه مارو ډلو لخوا د ښځو بی عزته کول او پر هغوی جنسی تیری زیات لیدل کېږی.
- په ایډز اخته شویو کورنیو د غړو د سرپرستی مسئولیت اکثره وخت د ښځو او نجونو په غاړه اچول کېږی چی ددی کار په نتیجه کې پر ښځو باندی د کار بوج زیاتیږی او دهغوی عایدات او د زده کړی شونتیاوې کمیږی.
- جنسی خصوصیت، میراث، حبس او حمایوی قوانین دا څرګندوی چی هغه ښځی چی په ایډز اخته وی، یاپی خپل جنسی شریک له لاسه ورکړئ وی او یا هغه ښځې چی د ایډز درلودلو له کبله پریښودل شوی وی؛ په ښکاره توګه د مالی مرستو او اقتصادی فرصتونه څخه محرومې دی او دا کار پخپل وار هغوی دی ته مجبور کوی ترڅو د ژوندی پاتی کېدلو لپاره د پیسو په وړاندی جنسی اړیکو ته مخه کړی.
- څیړنو ښوولی چی د ایډز سره په تړاو کې د ټولنیزو حقونو څخه محرومیت او ټولنیز توروته د نارینه وو په نسبت ښځی په زیاته اندازه متضرره کوی، په ځانګړی توګه په کلیوالو سیمو کې چی په نتیجه کې ښځې د ټولنې څخه ګوښه او لری پاتی کېږی او دا کار بیا هم ښځی مجبوروی ترڅو د جنسی اړیکو له لاری خپل ژوند تمویل کړی.
- هغه کار چی ښځې یی سرته رسوی په آسانی سره د ایډز په واسطه مختل کېدای شی د مثال په توګه ښځې اکثره په غیر رسمی سکتور کې تسلط لری چیرته چی دندې نه د ټولنیز امنیت او نه هم د کوم مسلکې روغتیایی ارګان تر پوښښ لاندې دی.
- نسبت نارینه ووته په لږ شمیر کې ښځې د ټولنیز امنیت او یا د مسلک اړوند روغتیایی خدماتو تر پوښښ لاندې راغلی.
- په یو شمیر رضاکارانه کارونو کې د نارینه وو ونډه زیاته ده چی پدې حالت کې ځینې وخت هغوی په څپل منځ کې د نامحفوظه جنسی اړیکو درلودلو سره مخامخ کېږی.
- بعضی وخت نارینه د هغو نورمونو قربانی کېږی چی د دوی د کړو وړو په اړه موجود دی او دا کار هغوی د نامحفوظه او جبری جنسی اړیکو په لور راکاږی.
- د ښځو او نارینه وو تر منځ د قدرت په اړوند ، نارینه د ایډز په وړاندی د مبارزی او دهغه د مخیوی لپاره په تشویقی چارو کې مهم رول لوبوی.

## دوهمه ضمیمه

## په کارځای کې د اخته کیدنې کنټرول

### الف- د وینې او د بدن د مایعاتو اړوند عمومي پاملرنې

د وینې او د بدن د مایعاتو په اړوند عمومي پاملرنې (چې د "عمومي پاملرنو" یا "معیاري پاملرنو") په نوم هم یادیږي، د لومړي ځل لپاره د متحده ایالاتو د ناروغیو د کنټرول او مخنیوي د مراکزو لخوا په کال ۱۹۸۵ کې وړاندیز شوې. ددې کار له موخو څخه یو هم د ایچ آی وي د اپیدیمۍ او د وینې نه زیږیدلي انتاناتو څخه د روغتونونو د کارګرو د ساتلو لپاره د بیړنیو نوي ستراتیژیو جوړول وه، دې نوي کړنلاره د لومړي ځل لپاره پر ټولو کسانو باندې د وینې نه زیږیدلي انتاناتو د پاملرنو پر پام کې نیولو او پلي کولو باندې ټینګار کړئ دی.

عمومي پاملرنې د انتاناتو (اخته کیدنې) د کنټرول لپاره ساده او معیاري لارې دي چې هرکله د ناروغانو د ساتنې لپاره کاریږي ترڅو د وینې نه زیږیدلي ناروغیو خطرات کم کړي، لاندې ټکي دي په عمومي پاملرنو کې په پام کې ونیول شي:

- د تیرو او تیزو شیانو په لاس وهلو کې له پوره پاملرنې څخه کار اخیستل؛
- د هر جراحي پروسیجر څخه د مخه او وروسته د لاسونو مینځل؛
- د ساتندوی وسایلو څخه کار اخیستل - لکه دستکشې، چپنه، ماسک- (کله چې د بدن د وینې یا مایعاتو سره مستقیم تماس ته اړتیا وي؛
- په وینې او د بدن په مایعاتو ملوث یا ککړ مواد باید په احتیاط سره وکارول شي؛
- د طبي سامانونو او ملوثو یا ککړو تجهیزاتو په پوره توګه ضد عفوني کول
- د ککړو ټوټو یا ټوکر په احتیاط سره مواظبت کول

### د اخته کیدنې د کنټرول لپاره ټاکل شوي لارښوونې او عمومي پاملرنې

بیدنارش، ایچ ایس؛ ایکلاند، کې جې: "د اخته کیدنې کنټرول: د عمومي پاملرنو بیا په پام کې نیونه"، د امریکا د غاښونو روغتیاپالانو ټولنه: (شیکاګو، ۱۹۹۵) ټوک ۱۱، ګڼه- ۱

د ناروغیو د کنټرول او مخنیوي مرکز/ د ایچ آی وي، ایس ټي ډي او تي بي د مخنیوي لپاره ملي مرکز/ د ایډز د مخنیوي یوه څانګه: د روغتیا ساتنې کارګرو ته د مسلکي ایچ آی وي د انتقال څخه مخنیوي (جون، ۱۹۹۹)

د جنوبي افریقې د قانون کمیسیون: ایډز ته اړوند د قانون اړخونه (د پروژې نمبر۸۵-): په کارځای کې د انتان د کنټرول اقدمات (عمومي پاملرنې) (۱۹۹۷). د روغتیا نړیوال سازمان: په کارځای کې د ډبلیو ایچ آو لارښوونې د ایډز او لمړنۍ مرستو په هکله، د ډبلیو ایچ او د ایډز لړۍ ۷ (جنیوا، ۱۹۹۰). د نرسانو نړیواله قونسلګرۍ: ایچ آی وي او کارځای او عمومي پاملرنې، د نرسانو او قابلو لپاره د ایچ آی وي ځینې واقعیتونه (جنیوا، ۲۰۰۰)

## دریمه ضمیمه

### د کارځای د کړنلارې (کړنلاره) د پلان او پلی کولو لپاره پوښتنلست

کارګمارونکې، کارګران او دهغوی ټولنې باید په هر اړخیزه توګه یو له بل سره مرسته وکړی ترڅو د ایچ آی وی په هکله داسی یوه کړنلاره جوړه کړی چی د کارګمارونکو او کارګرو اړتیاوو ته کارنده ځواب ووایی. دا کړنلاره باید د یوی بیلګی په څیر د ټولنې خلکو ته په عمومی توګه ورزده کړی چی څرنګه د ایډز بندو بست او کنټرول ترسره شی. ددی کړنلاره عمده عناصر، ددی کړندود په ۹-۶ برخه کې ذکر شوی، چی د ایدز په اړه خورا مهم معلومات پکښی نغښتی دی؛ لکه ایډز څنګه انتقالیږی، د ځان ساتلو او حاکمو ستراتیژیو د جوړلو لپاره روزنیز اقدامات، د مخنیوی عملی اقدامات چی د سلوکو په بدلون کې مرسته کوی، د اخته کارګرو د ساتنی او ملاتړ لپاره اقدامات، که څه هم د هغوی د کورنۍ یو غړی په ایډز منتن (په ایډز ککړ) وی، او د کارګرو په وړاندی د هرډول تورلګونې او تبعیض په وړاندی د پوره حوصله مندی د اصل څخه کار اخیستل.

دا لاندې پوښتنلست د یوی کړنلاره او پروګرام د جوړولو لپاره کېدای شی وکارول شی:

- د ایچ آی وی کمیټه د لاندې خلکو د مخکښو استازو څخه جوړیږی: سوپروایزران، کارګران، سوداګریزی اتحادیې، د بشری ځواک ریاست، د روزنی ریاست، د صنعتی اړیکو څانګه، د مسلکې روغتیا څانګه، د روغتیا او مصؤنیت کمیټه، او په ایډز اخته کسان، که چیری دهغوی خوښه وی؛
- کمیټه د وظایفو د لایحی او د تصمیم نیولو د ځواک او مسئولیتونو په اړه پریکړه کوی؛
- د ملی قوانینو بیا کتنه او تصدیو سره دهغوی تړاو؛
- کمیټه د ایچ آی وی د اپیدیمی( ساری ناروغی) اغیزه پر کارځای ارزوی، او د منتن (په ایډز ککړ) او اخته کارګرو اړتیاوی په پټ او محرمانه توګه څیړی؛
- کمیټه په ګوته کوی چی کوم روغتیایی او معلوماتی خدمات په کارځای او ځایی ټولنې کې شتون لری؛
- کمیټه د کړنلاره مسوده جوړوی، دا مسوده د اړونده کسانو نظریات راټولوی، اصلاح کېږی او بلاخره تصویب کېږی؛
- کمیټه ځانته بودیجه ترتیب کوی، او د تصدئ نه بهر مالی مرستې جلب کوی او په ځایی ټولنه کې موجوده منابع په ګوته کوی؛
- کمیټه د کړنلاره د پلی کولو لپاره داسی کاری پلان طرحه کوی چی مهال ویش او مسئولیتونه هم پکښی نغښتی وی؛
- کړنلاره او کاری پلانونه د خبرتیایی لوحو، بریښنالیکونو، خاصو مجلسونو، کورسونو او روزنیزو ناستو له لاری خپریږی؛
- کمیټه د کړنلاره اغیزې بررسی کوی
- کمیټه د ایډز او کارځای سره د ایډز د تړاو په اړوند د ځایی څیړنو او بهرنیو معلومات په رڼا کې کړنلاره تر بیا کتنی لاندې نیسی؛

د پورتنیو ګامونو څخه هر یو باید د یو جامع تصدی د کړنلاره په څیر بشپړ شی، دا کړنلاره به په پرمختلونکې شکل سره پلان، پلی او څیړل کېږی.

## څلورمه ضمیمه

### د کار د نړیوال سازمان اسناد

الف- پریکړه لیکونه، کنفرانسونه، ناستې او راپورونه

هوجیس-ایبرهارد ، جې: ایچ آی وی پوری اړوند کړنلاره او قانونی موضوعات او د کار نړۍ (د کار نړیوال سازمان، جنیوا ، ۱۹۹۹ )
- په استخدام کې د تساوی د مسایلو په اړوند د روستنی انکشافاتو بهر لیکنه د کارګرو د محاکمو د قاضیانو او دهغوی د مشاورینو لپاره (د کارنړیوال سازمان، جنیوا ، ۱۹۹۷ )، "د ایډز د تبعیض په اړوند ځانګړی پرمختګونه"، پاڼه- ۳۱-۲۷ وکتل شی.
د کار نړیوال سازمان: په محصولاتی روغتیا او ایډز د مخنیوی کې د تنظیم شوی سکتور نقش، د انګلوفون افریقا د یو دری اړخیزه ورکشاپ راپور، کامپالا، یوګاندا، د ۲۹ نوامبر نه تر ۱ سامبر ۱ نیتي پوری، ۱۹۹۴ (جنیوا ، ۱۹۹۵ )
- د کارګرو د روغتیا د نظارت په اړوند د ماهرینو د مجلس راپور، ۹-۲، سپتمبر، ۱۹۹۷، (جنیوا ، ۱۹۹۸ )
- سالم کار، د عمومی ریس ګذارش، د کار نړیوال کنفرانس، ۸۷ امه ناسته، جنیوا ، ۱۹۹۹.
- په افریقا کې د ایډز په وړاندی غبرګون: د کار په نړۍ که یو ابتکار، د افریقا محلی دری اړخیزه ورکشاپ د مذاکراتو پر بنسټ چې د ایډز د ټولنیز او کاری اغیزو د منځه وړلو په اړوند بیان شوی، ویندهویک، نامیبیا ، ۱۳-۱۱ اوکتوبر، ۱۹۹۹ (جنیوا ، ۱۹۹۹ )
- د ایچ آی وی او د کار د نړۍ په هکله پریکړه لیک، د کار نړیوال کنفرانس، ۸۸ ام ناسته، جنیوا ، ۲۰۰۰.
- د ایچ آی وی او د کار د نړۍ به هکله ځانګړی مجلس، د دری اړخیزه تخنیکي هیئت د خبرو اترو لنډیز، جنیوا ، د جون آتمه، ۲۰۰۰.
- سیدا ای میلیو دو تخاویل: کولیکت دو دونی او توګو (لومی، سپتمبر، ۲۰۰۰ )
په تانزوانیا کې د ایډز د پاندیمی اغیزی او وسعت او د کار پر نړۍ یې اغیزی، د تانزوانیا متحده جمهوری ته د کار نړیوال سازمان د ماموریت د اسنادو سرچینه، (دار سلام، سپتمبر، ۲۰۰۰ )
- د کار په نړۍ کې د ایچ آی وی په وړاندی د عمل کولو برنامه: د هیئتانو هوکړه، د افریقا د نهم سیمه ییز مجلس راپور او پایلی (ابیجان، ۱۱-۸ د سامبر، ۱۹۹۹ ) با صلاحیته هیئت، ۲۷۷ ام ناسته، جنیوا ، ۲۰۰۰
- ایچ آی وی: د سالم کار، محصولاتو او انکشاف لپاره تهدید دی، د ایچ آی وی او د کارنړۍ - - په هکله د پرتمین او ځانګړی مجلس د خبرو اترو سند، (جنیوا ، ۲۰۰۰ )
- ایچ آی وی په افریقه کې: د کار په نړۍ باندی اغیزه (جنیوا ، ۲۰۰۰ ).
د کار نړیوال سازمان/ د کار او ځوانانو د پرمختګ وزارت، د تانزوانیا متحده جمهوری: د کارځای د اداری او منجمنت د تقویت ، د ایچ آی وی او ایس تی ډی د مبارزی لپاره، د ملی دری اړخیزه سیمینار راپور (دار سلام، ۲۰۰۰ )
این، ډابا ، ایل: هوجیس-ایبیرهارد ، جې: ایچ آی وی او استخدام (د کار نړیوال سازمان، جنیوا ، ۱۹۹۸ )
په افریقا کې د ایډز د له منځ وړلو لپاره د تجارتی اتحادیو د سیمینار راپور، اکره، د جولای ۲۸-۲۶، ۲۰۰۰

## ب- د کار نړیوال سازمان اړونده کنوانسیونونه، سپارښتنلکونه، کړندودونه او لارښوونې

په استخدام او مسلک کې د تبعیض کنوانسیون، 1958 (ګڼه-111)
د مسلکي بیارغاونی او استخدام (د معیوبو کسانو ) کنوانسیون، 1983 (ګڼه-159)
د کار د پرېښودلو کنوانسیون، 1982 (ګڼه-158)، او سپارښتلیک (ګڼه- 166)
د ډله ایزه معاملو د تنظیم د حق کنوانسیون، 1949 (ګڼه-98)
د ډله ایزه معاملو کنوانسیون، 1981 (ګڼه-154 )
د مسلکی خوندیتوب او روغتیا کنوانسیون، 1981، (ګڼه-155)، او سپارښتلیک (ګڼه-164)
د مسلکي روغتیا خدماتو کنوانسیون، (ګڼه-161)، او سپارښتلیک (ګڼه-171)
په استخدام کې د صدماتو د تعاون کنوانسیون، 1964 (ګڼه-121 )
د ټولنیز امنیت (حد اقل معیاراتو ) کنوانسیون، 1952 (ګڼه-102 )
د نرسانو کنوانسیون، 1977 (ګڼه- 149 )
د استخدام لپاره د مهاجرت کنوانسیون (بیا کتل شوی )، 1949، (ګڼه-97)
د مهاجرو کارګرو (مکمله احکامو ) کنوانسیون، 1975 (ګڼه-143 )
د نیمی ورځ (وروسته له وخته ) د کارکولو کنوانسیون، 1994 (ګڼه-175 )
د ماشومانو د کار تر ټولو ناوړه بڼو کنوانسیون، 1999 (ګڼه- 182 ) او سپارښتلیک (ګڼه-190 )
په کارځای کې د الکول او مخدره توکو پوری تړلی مسایلو اداره: د کار د نړیوال سازمان کړندود (ژنیوا ، 1996 )
د کارګرو د شخصی سوابقو ساتنه: د کار د نړیوال سازمان کړندود (ژنیوا ، 1997 )
د کار نړیوال سازمان: د کارګرو د روغتیا د څار لپاره تخنیکي او اخلاقی لارښووني، د مسلکی خوندیتوب او روغتیا ، دټوک شمیره 72 (ژنیوا ، 1998 )
په کارځای کې د معیوبیت د اداري کړندود (راتلونکې)

## پنځمه ضمیمه

## د ایډز په اړه نړیوالې او ملی لارښوونې

### الف- نړیوالې لارښونې

د اروپا شورا، د اروپا د روغتیا کمیټه: تر استخدام دمخه طبی معاینات او/یا خصوصی بیمه: د اروپایی لارښوونو لپاره یو پروپوزل (ستراسبورگ، د می میاشت، 2000)

نړیواله کورنۍ روغتیا: د خصوصی سکتور د ایډز کړنلاره، د ایډز تجارتی اداره کول: د مدیرانو لپاره لارښود ( د ښځو دری اړخیز لوری، این سی، 1999)

د بشر د حقونو د عالی کمیشنر دفتر (OHCHR)/UNAIDS: ایډز او د بشر حقوق: نړیوال لارښود (نیویارک او ژنیوا، 1998)

د جنوبی افریقی د پرمختګ ټولنه (SADC): په (SADC) کې د ایډز او استخدام په اړونده لارښونې (زامبیا، 1997)

UNAIDS: د ایډز د ټولنیز او اقتصادی اغیزو د څېړنو په هکله لارښوونې (ژنیوا، 2000)

UNAIDS: ایډز او د ایچ آی وی انتان، د ملګرو ملتونو د کارکوونکو او د هغوی د کورنیو لپاره معلومات (ژنیوا، 1999)

UNAIDS او د پارلمانونو ټولنه: د ایډز، قانون او د بشر د حقونو په اړه د قانون جوړوونکو لپاره وړوکې لارښود (ژنیوا، 1999)، "د نړیوالو لارښونو تفسیر".

ملګری ملتونه: پریکړه لیک (54/283)، د ایډز او ایچ آی وی د ستونزی هر اړخیزه بیاکتنه، د عمومی اسامبلی د څلور پنځوسمی ناستی تصویب شوی، نیویارک، د سپتمبر ۱۴، کال 2000

د ملګرو ملتونو د بشری حقونو کمیسیون: په ایچ آی وی اخته کسانو په وړاندی تبعیض یا ایډز ځپلی کسان، آخری راپور چی د ښاغلی واریلا کویروس په وسیله وړاندی شو، (ژنیوا، د جولای 28، کال 1992)

د روغتیا نړیوال سازمان: په کارځای کې د ایډز او لومړنیو مرستو په هکله لارښوونې، د روغتیا د نړیوال سازمان د ایډز پرله پسی اوومه لړۍ، (ژنیوا، 1990)

د روغتیا نړیوال سازمان: د ایډز او کارځای په اړوند مشورتی بیانیه (ژنیوا، د جون 27-29، کال 1998)

### ب- ملی لارښونې

#### حکومت

د ناروغیو د کنټرول او مخنیوی مرکز: "په ایچ آی وی منتن (په ایډز ککړ) کسانو کې د فرصت طلبو انتاناتو د مخنیوی لپاره لارښوونې"، د ناروغۍ او مړینی په اوونیز راپور کې، (اتلانتا)، د "محیطی او مسلکې معروضیت" ضمیمه دی وکتل شی، د آگست 20، کال 1999، ټوک 48، لسمه ګڼه، 64-62 مخ

د ایډز په اړوند د ښاریانو کمیسیون: د ایډز په وړاندی غبرګون، د کارځای لپاره لس اصول (نیویارک او شمالی نیو جیرسی، 1988)

د عامه خدماتو، کار او ټولنیزو چارو وزیر، زیمبابوی: د کارګرو د اړیکو (ایډز او ایچ آی وی) مقررات (زمبابوی، 1998)

د نمیبیا د کار وزارت: په استخدام کې د ایډز په اړوند د ملی قوانینو د پلی کولو لپاره لارښود (نمیبیا، 1998)، ګڼه-78

د نمیبیا د کار وزارت: د ښو کړنو لپاره قوانین: د ایډز او استخدام کلیدی اړخونه (نمیبیا، 2000)، شمیره 1298

د جنوبی افریقی د روغتیا دیپارتمنت/ د اجتماعی پلټنی لپاره ټولنه: د ایډز او جنسی اړیکو له لاری انتقال شوی ناروغیو په اړوند د کارځای کړنلارې لپاره لارښوونی (مارچ، ۱۹۹۷)

د روغتیا او بشری خدماتو لپاره د متحده ایالاتو دیپارتمنت: د وړو تجارتونو لارښود: ایډز څرنګه ستاسی په تجارت باندی اغیزه اچولای شی (واشنګټن، ډی سی)

د غربی آسترالیا کمیسیون: په کارځای کې د ایډز او هیپاټیټس د اداری لپاره کړندود (ویست پیرت، سپتمبر، 2000)

#### کارګمارونکی ټولنې

د کارابین کارګمارونکو اتحادیه: د کارابین کارګمارونکو لپاره یو وینډوونکې غږ، په کارځای کې د ایډز او STD په اړه د کنفرانس پیشکشونه (سورینیم، اپریل، 1997)

کریستی، آ: د ایډز سره کارکول: د تجارت او تجارانو لپاره لارښود ( برادفورد او سانفرانسیسکو، د ایډز په هکله د کارګمارونکو مشورتی خدمات، 1995)

د کېنیا د کارګمارونکو فدراسیون: په کارځای کې د ایډز دستورالعمل (کېنیا، 2000)

لووین سن، آر: په ایچ آی وی کې د کمپنیو منځگړیتوب- 1. کمپنۍ څه کولای شي؟(هاریر، د افریقا د تجارت د اتحایه ټولنه، 1997)
د جنوبي افریقې د موتور اتحادیه: د سامکور کړنلاره/ د ایچ آی وی/ ایډز په اړه مکتوب
UNAIDS/ د ایډز په اړه د جهاني تجارت قونسل/ د پرنس ویل د تجارت د رهبرانو فوررم: د ایډز په وړاندې د تجارت غبرګون: زده کړل شوي درسونه او اغیزې
UNAIDS: د فیلاکور اتحادیه: د ایډز په وړاندې د خصوصي سکتور غبرګون (فیلیپین)، د بهترینو تجاربو ټولګه) ژنیوا، 1999)
د کارکوونکو د مدیریت لپاره د متحده ایالاتو دفتر: د ایډز د کړنلاره لارښوونې (واشنګټن، ډي سي، 1995)

## د کارګرو ټولنې

د امریکا د کارګرو فدراسیون او د صنعتي ټولنو کنګره (AFL-CIO): د ایډز په اړه پریکړه لیک (1991 او 1993)
د کاناډا د کار کنګره: د ایډز او کارځای په اړه د ملي کړنلاره څرګندونې. د اتحادیو او د اتحادیو د غړو لپاره لارښود (اوتاوا، 1990)
د کارابین د کار کنګره: د ایډز په خبرتیا، موخو او ستراتیژیو کې د تجارتي اتحادیو ونډه، د تجارتي اتحادیو او ایډز په هکله د کارابین د سیمینار بیانیه، سپتمبر، ۱۹۹۰
د آزادو کارونو د ټولنو نړیوال اتحاد: د کانګرس بیانیه د ایډز سره د مبارزې په اړه (اصلاح شوې) (اپریل- ۲۰۰۰)
د بوتسوانا د تجارتي اتحادیو فدراسیون: په کارځای کې د کارګرو د ایډز سره مبارزې په هکله د ګابرون د تجارتي اتحادیي بیانیه، (ګابرون، سپتمبر، ۲۰۰۰)
د محلي او مرکزي دولت ملي ادغام او د کارګرو لپاره د پاراستاتل د ټولنې لارښود، بوستوانا: کړنلاره او د کارځای لارښوونې.
د کارکوونکو د خدماتو نړیواله ټولنه: د ټولنو د کړنو له لارې د ایډز د تبعیض په وړاندې مبارزه، (واشنګټن، ډي سي، ۱۹۹۶)

## شپږمه ضمیمه

### سکتوری قوانین، لارښوونې او معلومات

#### کرنه

بارنیټ، ټی: "ګوزاره حاله کرهنه" ، په بارنیټ، آ؛ بلاس، ای؛ وایټ سایډ، آ: د سکتوری پلان نیوونکو او مدیرانو لپاره د ایډز دستورات (جنیوا ، GPA/UNAIDS، ۱۹۹۶)

دو ګویرنی، جی: ایدز او کرهنه په افریقا کې: آیا د کرنی کړنلاره کولای شی کوم بدلون را منځ ته کړی؟، د خوراکې موادو او کرنی سازمان، د متداوم پرمختګ دیپارتمنټ، (روم، ۱۹۹۹)

د ټولنې د خوځښت پروګرامونو له لاری د ایډز په وړاندی مبارزی کې د کلیوالو کارګرو د ښکېل کېدلو کړنلاره، دا هغه مطلب وه چې په تانزوانیا متحده جمهوری کې، د ټولنې ګډون او ایډز په هلکه یو سیمه ییز ورکشاپ کې وخیړل شو، د جون میاشت 2000، د تانزوانیا متحده جمهوری (واشنګټن، ډی سی، ۲۰۰۰)

د ایډز په اړه د جنوبی افریقی د معلوماتو د خپرولو خدمات (SAFAIDS): ایډز او په افریقا کښی کرنه او فارمداری (زمبابوی، 1999)

#### زده کړه او تعلیم

نړیوال تعلیم: ایډز: ماشومان او ښوونکې وژغورئ، د ایډز او روزنی په هکله د اجرائیوی هیئت پریکړه (بروسیلز، 2000)

د فلوریدا نړیوال پوهنتون (FIU) د روغتیا ساتنی او ښه والی مرکز/ د FIU د ایډز کمیټه: د FIU د کارکوونکو لپاره عملی لارښود، د ایډز په اړه معلومات (فلوریدا، 1999)

د فلوریدا نړیوال پوهنتون (FIU) د روغتیا ساتنی او ښه والی مرکز: د زده کوونکو لپاره عملی لارښود، د ایډز په اړه معلومات (فلوریدا، 1999)

کېلی، ایم جی: "د ایډز اغیزې پر باندی پوهنی، او د پوهنی اغیزې پر ایډز" (لوشکا، 1999)، په بهترینو عملی مجموعه کې، د UNAIDS ویب پاڼه،

د متحده ایالاتو د جنسی اړیکو د معلوماتو او زده کړو قونسل: "د ایډز هم غړی زده کړی: نیویارک د ښار ښوونځې" د دوکان خبری (د ښوونځی د روغتیا فرصتونه او پرمختګ) ورځپاڼه (بروکلاین)، د آګست 16، کال 1996، لومړی ټوک، پنځمه ګڼه

UNAIDS: د ایډز او STD څخه د مخنیوی لپاره په ښوونځیو کې روغتیایی تعلیمات: د درسی کوریکولم د طراحانو لپاره سرچینه (ژنیوا، 1999)

د کوین لانډ پوهنتون: "د ایډز کړنلاره او لارښوونې"، د پوهنتون د کړنلارهو او کړنلارو په لاسی کتاب کښی (بریس بین، 2000)

د ښوونکو د نړیوالو ټولنو جهانی مذاکره: په ښوونځیو کې د ایډز په اړه متفقه بیانیه،

#### روغتیا

د ناروغیو د کنټرول او مخنیوی مرکز: "د روغتیا پالنی په چوکاټ کې د ایډز د انتقال څخه د مخنیوی لپاره سپارښتلیکونه"، د ناروغۍ او مړینی په اوونیز راپور کې، (اتلانتا)، د آګست 21، کال 1987، ټوک 36، دوهمه ګڼه

د ناروغیو د کنټرول او مخنیوی مرکز: "روغتیا ساتنی او عامه کارګرو ته د ایډز او بی هیپاټایتس د انتقال څخه د مخنیوی لپاره لارښوونې"، د ناروغۍ او مړینی په اوونیز راپور کې، (اتلانتا)، د جون 23، کال 1989، ټوک 38، پنځمه او شپږمه ګڼه

د ناروغیو د کنټرول او مخنیوی مرکز: "د عامه روغتیا د خدماتو لارښوونې د روغتیا ساتنی هغه کارګرو لپاره کوم چې ایډز سره مخ کېږی، د معروض شویو کسانو د وقایی لپاره سپارښتنلکېونه"، د ناروغۍ او مړینی په اوونیز راپور کې، (اتلانتا)، 1998، ټوک 47، اوومه ګڼه

ګارنر، جي. ایس: په روغتون کې د تجرید د پاملرنو لپاره لارښود، د روغتون د انتاناتو د کنټرول خدمات، د کنټرول مشورتی کمیټه، (اتلانتا، 1996)

د پرستارانو نړیوال قونسل: په نرسانو او قابلو باندی د ایډز د اغیزو کمول (ژنیوا، 1996)

د نړیوال پرمختګ لپاره د متحده ایالاتو ایجنسی (USAID): د ایډز دستورات، روغتیایی سکتور (واشنګټون، ډی سی)

WHO/ILO: د ایډز سره د روغتیایی کارګرو د معروضیت وروسته کوم اقدامات باید واخیستل شی، په دی اړوند مشورتی بیانیه (ژنیوا، اکتوبر، 1989)

### هوټل، خواړه او توریزم (ګرځندوی)


د کارابین د اپیډمولوژۍ مرکز: ایچ او وی ایدز په کارځای کې- د ګرځندوی د صنعت لپاره پروګرام، د کارابین ګرځندوی روغتیا، خوندیتوب او خبرواترو پروژه (ترینیداد او توباګو ښارونه ۲۰۰۰ میلادی کال).

ایوان، سی: خصوصی کلپونه او ایډز: خصوصی کلپونو لپاره لارښوونې تر څو د ایچ آی وی او ایډز له اغیزو څخه ځان وساتی، د کلپ د لومړنبو خدماتو ریاست، د امریکا د کلپونو د مدیرانو ټولنه (الکساندریا)

د هوټلونو او رستورانتونو نړیواله ټولنه/ د پاسیفیک آیشیا د مسافرتونو ټولنه/ UNAIDS: په کارځای کې د ایډز ننګوونې: د کوربه فابریکو لپاره لارښود (ژنیوا او پاریس، 1999)

موماو، پی: "کله چې یو ګمارل شوی کس وایې: رئیس صاحب، زه په ایډز اخته یم" ، د امریکې په رستورانتونو کې (د رستورانتونو ملی ټولنه، واشنګټن، دی سی)، مارچ، 1996

د نړیوال پرمختګ لپاره د متحده ایالاتو ایجنسی (USAID): د ایډز دستورات، ګرځندوی سکتور (واشنګټون، ډی سی)

د روغتیا نړیوال سازمان: د نړیوال سفر او ایچ آی وی انتان په هلکه مشورتی راپور، (ژنیوا، مارچ 1987)

د روغتیا نړیوال سازمان: (ژنیوا، مارچ 1987) د ایډز لپاره د نړیوالو مسافرینو د څارنی په هکله بیانیه، (ژنیوا، 1988)


### بیړۍ، چلونه او ترانسپورت


د هوایی- فضایی طبی ټولنې د انسانی فکتورونو کمیټه (AsHFC): په ایډز اخته هوابازانو عصبی-سلوکې ارزونه، مسوده (الکساندریا، 1996)

بیکاکو- کجورا، ډبلیو: "ایډز او ترانسپورت": د یوګندا د سړک او ریل ګاډی د کارګرو او د هغوی د ټولنو تجربه (د ترانسپورت د نړیوالو کارګرو بنسټ، لندن، 2000)

د ترانسپورت د نړیوالو کارګرو بنسټ: د ایډز د وقایوی کړنلاره په اړه پروپوزل او په یوګندا کښی د ترانسپورت د کارګرو ساتنه (لندن، 2000)

نووا ایرا این سلود/ د ایډز په وړاندی ملکې نظامی ټلواله: د پانامی نړیوال سمندری او یونیفورم خدمات، د STD سکتور، د ایچ آی وی پروژه، اجرائیوی لنډیز (1998)

د فیلیپین د مانوګانو د مرستو پروګرام (PSAP)/ د مانوګانو ائتلاف د ایډز په اړه د فیلیپین د مانوګانو لپاره د (PSAP) روزنیز پروګرام (روټردآم)

د روغتیا نړیوال سازمان/ د کارنړیوال سازمان: د ایډز د مشورتی بورد اود مانوګانو متفقه بیانیه (جنیوا، اکتوبر، 1989)

ایجیر، آر: په سمندری سکتور کې د ایډز د مخنیوی د کړنلاره د ودی په اړوند د ټولنو مجلس، د پس منظر اسناد (لندن، اکتوبر، 1997)

1997, Vol. 3, No. 4.

ایګر، آر: نورمان، ایم: "ایډز او سمندر- مانوګان او بندری کارګران: "له خطر سره مخامخ یو پټ نفوس"، په ملکې نظامی ټلوالی رساله (هان اور، NH)، اوکتوبر، 1997، دریم ټوک، ګڼه څلورم


### کان کېندنه او انرژی


د جنوبی افریقا انګلیسی-امریکایی انحصاری شرکت: د ایډز کړنلاره (1993)

د کېمیاوی، انرژی، کان کېندنی او عامه کارګرو د ټولنو نړیوال فدراسیون، د ایډز د ورکشاپ په هکله راپور او پایلې (جوهآن نیسبورګ، 2001)

د نړیوال پرمختګ لپاره د متحده ایالاتو ایجنسی (USAID): د ایډز دستورات، د کانونو سکتور (واشنګټون، ډی سی)

نړیوال بانک/ نړیوال مالی مرستې (IFC): ایډز او کان کېندنه، د IFC ویب پاڼه

## عامه خدمتونه او پوځ

ملکي - پوځی ټلواله (CMA)/(UNAIDS): د ایچ آی وی او ایډز د جګړی ګټل: د ایډز د مخنیوونکې او ساتندوی پروګرامونو طرح، څارنه او ارزونه د مشرکو خدمتونو له لاری، (ژنیوا ، 1999)

د وانکوویر روغتیایی څانګه: په کارځای کې ایډز، د مدنی کارګرو لپاره رونیز پروګرامونه (وانکوویر ، 1990)

نړیوال عامه خدمتونه: د عامه سکتور کارګرو لپاره د ایچ آی وی او ایډز کړنلاره او پروګرامونه (فیرنی- والټایر ، 2000)

UNAIDS: ایډز او پوځ، د UNAIDS لید لوري، د UNAIDS د بهترینو تجاربو ټولګه (ژنیوا ، 1998)

د ملګرو ملتونو نظامی پلان نیونکې او قوماندانان/ د ایډز سره په مبارزه کې د ملګرو ملتونو د سوله ساتی عملیاتو او ملکې-پوځی ټلوالې دیپارتمنت: د ملګرو ملتونو نظامی پلان نیونکو او قوماندانانو لپاره د ایډز د مخنیوی او کنټرول په اړه د کړنلاره لارښوونې (ژنیوا ، فبروری، 2000)

د نړیوال پرمختګ لپاره د متحده ایالاتو ایجنسی (USAID): د ایډز لارښونې، د پوځی وګړو لپاره (واشنګټون، ډی سی)

## اوومه ضمیمه

### غوره شوی تعلیمی ، روزنیز توکی او نور معلومات

د امریکا دولت د کارگرو فدراسیون(AFGE) :د (AFGE) لارښود: ښځې او ایډز (واشنټن، ډی سی)

د امریکا د کار فدراسیون او د صنعتی ټولنو کنگره (AFL-CIO): ایډز په کارځای کې: د ستیورډانو لپاره وړوکې لارښود (واشنټن، ډی سی)

د امریکا د کار فدراسیون او د صنعتی ټولنو کنگره (AFL-CIO): ایډز په کارځای کې: د کار اندیښنې(واشنټن، ډی سی)

د امریکا د ښوونکو فدراسیون: د ایډز د زدکړو پروژه (واشنټن، ډی سی)

د کاناډا د ایډز ټولنه/ د کاناډا د عامه کارگرو ټولنه: د کاناډا په کارځای کې د ایډز اداره کول- د کړنلاره د پرمختګ او د زدکړې لارښود (1990).

د کاناډا د عامه کارگرو ټولنه: د ایډز او کارځای په اړه معلوماتی رساله(آنتاریو ،2000).

د امریکا د مخابراتو کارگران(CWA): د ایډز په وړاندی د CWA او متحده ایالاتو غبرگون(1994).

لیدر، ایس: "ولی ایډز صنفی ټولنو یو مسئله ده " ، د ساینس په نړۍ کې، 1992، ټوک 36، دویمه گڼه

د نمیبیا د کارگرو ملی ټولنه (NUNW): د ایډز په اړوند لومړنی روزنیزلارښود (نمیبیا ، 1995)

روسکام، ای: ایډز او کارځای، په کارځای کې ستاسی د روغتیا او مصؤنیت یوه نمونه؛ یو نمونه ای روزنیزه گیډۍ (د کار نړیوال سازمان، ژنیوا ، 1996).

نړیوال عامه خدمات: فوکس(فیرنیی-والتیر) ، اتم ټوک، لومړۍ گڼه

د کارگرو د خدماتو نړیواله ټولنه: د ایډز د زده کړې پروژه.

د کارگرو د خدماتو نړیواله ټولنه: د ایډز کتاب: د کارگرو لپاره معلومات.

د جنوبی افریقا د موټرونو انحصاری شرکت: د ایډز په هکله لاسی کتاب(2000).

د تعمیراتو د تجارت د گروپونو ټولنې ، د مخدرو موادو او الکولو کمیټه: ایډز: ریښتنی شه، مصئون شه(سیدنی)

UNAIDS: ایډز او کارځای: د تجارت جعلی او ابداعی غبرگونونه، د NAIDS د بهترینو تجاربو ټولگه(ژنیوا ، 1998)

د سوله ساتی عملیاتو لپاره د ملگرو ملتونو اداره: "لومړۍ نمونه: د ایډز تعریف او د هغه اثرات پر پوځ باندی "د ایډز څخه مخنیوی او په نړیوال پوځی ځواکونو کې د کړو وړو بدلون(نیویارک، 1999)

وایټ سایډ ، ای: سونټر، سی: ایډز: د جنوبی افریقا لپاره ننگونه(هیومن انډ روسزیو ، کېپ ټاون انډ ټیفیلبرگ، 2000)

ISBN 978-92-2-820286-1